June 23, 1957 6

پرله پسی گڼه (٤٣٥)

ماشومان

مونږ ناست و و ،ماشومان زمونږ له څنګه نژدی په‌لوبو مشغول ؤ.

کله به‌یوله بله په‌هسی خبره و نښتل ،چیغی به‌جګی شوی ،ژړا انګولا به وه کله به دخندا شوراو زوږ دومره اوچت شو چه‌په عذاب به‌ئی کړو.

یوه به چه دبل داوبو شیان ګډ وډ کړه هغه به‌په قهر شو کنځلی به‌ئی کولی او هر څه به‌ئی ویل.

زمونږ پام نه‌و ، یورا پاڅیده دبل مخ ئی شو کاری کړ دهغه‌پرمخ وینی روانی شوی او له مستۍ نه جنګ جوړ شو.

مونږ ویل خیردی واړه دی نه‌پوهیږی.

هو !ماشومان واړه دی مګر دومره واړه‌نه‌لکه مونږ چه‌د لوی خدای په‌حضور کښی کوچنیان یو .دماشومانو پوهه له‌مونږ نه‌لږه ده مګر زمونږ پوهه دخدای په‌دربار کښی هیڅ نه‌ده .هلته‌مونږ له‌ماشومانو نه‌ډیر واړه یو اوزمونږ پوهه دهغه په‌نسبت ډیره لږه ده. زمونږ لوبی هم دوړو غوندی دی ،زمونږ خندا اوژړا هما غسی ده .ماشومان پوهیږی چه‌د وی واړه دی مګر مونږ پخپل کوچنیتوب هم نه‌پوهیږو.په رشتیا چه‌مونږ له‌ماشومانو نه واړه‌یو او زمونږ خدای ډیر لوی دی .مونږ باید ډیر خوشحاله او سو،ځکه چه خوشحالی دماشومانو مال دی .

(الفت)

(۲۷ کال) (٦) گڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

د امتیاز خاوند: پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر: گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر: م،د،«ژواك»

پته: د محمد جانخان واټ دلیك او اصول د پخوانی ښوونځی تر څنګه

د تیلفون لمبر (. . .)

ددی گڼی لیکونکی او سرواندی

لیکونکی		سرواندی
۱ : د رهبر له مجلی نه	د ۱۳۳۶ کال	د پښتو د رسم خط مسئله
۲ : ښاغلی محمد صدیق سیلانی	دسرطان اوله	د تعصب د حقیقت ...
۳ : ښاغلی عزیز قندهاری	د ۱۳۷۶ کال	د مینی خیالی لیك
٤ : ښاغلی « حداد »	د ذیقعدې (۲۵)	هغه څوك....
٥ : « نور محمد « ترکی »	د ۱۹۵۷ کال	دانار شی ماسك
٦ : « رشاد قندهاری	دجون (۲۳)	د پیغور حسرت
۷ : « خواخوږی		بامیان ته خطاب
۸ : « ثابت		غرځستان
۹ : « واسعی		هیلن که هڅن ... ؟
۱۰ : « سیلاب		اوس پوی شوم
۱۱ : « ممنون باغوانیوال		شاعر ته
۱۲ : « ژواك		ای د زیړی ما زیگر ....
۱۳ : « زین الله		څرنگه .... ؟
۱٤ : « عبدالله غمجوز		د کونړ دشنو بڼونو ....

دد وهمی پشتۍ مضمون « الفت »

د دریمی « « ښاغلی قاضی « هدایت »

عکس یوه پاڼه

دپښتو د رسم خط مسئله

داخبر یقیناً ټولی پښتو نخوا
دخوشحالۍ وړدی چه د مودو
رائسیی دپښتو درسم خط کومه
کشاله چه پرته وه هغه په ۱٤.
اپریل دا کیډیمۍ په هال کښی
دلری او بری پښتو نخوا دادبیانو
په غونډه کښی تر ډیره حده پوری
فیصله شوه، صرف یو څو داسی
خبری پاتی شوې چه په هغو
ځمونږ د کوزی او بری پښتو نخوا
اتفاق رانغلو، چه منجمله دهغو نه
یوه خبره د «نړ» ده، چه ځمونږ
د کوزی پښتو نخوا ټول ادیبان
په دی خبره متفق وو چه دا ځان له
توری نه دی بلکه د نون غنه
«ن» او ړی «ړ» نه مرکب
شوی دی، او د بری پښتو نخوا
ادبیانو چه په هغو کښی ښاغلی
ګل پاچا الفت، قیام الدین خادم
او صدیق الله رښتین، شامل وو،
د هغوی په نزد «ڼ» یا «نړ»
ځان له مستقل حرف دی، بهر کیف
دا وخت مونږ په نا فیصله شوو
نورو بحث نه کوو، ځمونږ
دا وړاندی صرف په دی بحث
دی چه دپښتو ژبی په تاریخ کښی

دغه فیصله څومره لوی اهمیت لری
داحقیقت دی چه د قامونو په
ترقو کښی ژبه په جز ولاینفك
ګڼلی شی او ددی نه هم څوك
انکار نه شی کولی چه دژبی
دترقۍ دپاره دژبی رسم خط یو
کېدل هم دومره زیات ضروری
دی لکه څومره چه ژبه د قام
دترقۍ دپاره ضروری ده، مونږ
که دپښتو درسم خط دغه فیصله
د پښتون قام او دژبی د پاره
دپښتو او پښتون په تاریخ کښی
درحمت انقلاب او ګڼو، نو غلطه
به نه وی، په دی کښی هیڅ شك
نشته دی چه پښتو ژبه دعمرله
حیثه د ډیرو ترقی یافته ؤژبو
دنیا ګڼلی شی، ولی دبدقسمتۍ نه
لکه څنګه چه پښتانه تس ونس
او ټوکړی ټوکړی پراته دی،
نو هم دغه رنګی ئی ژبه هم
ټوکړی ټوکړی پرته وه، هرچا په
کور کښی کور کی جوړ کړی وو
او هم دغه وجه وه چه دپښتو ژبی
دترقۍ مخه را ایساره وه ددغی
فیصلی نه پس مونږ ټولی
پښتو نخوا ته زیری ورکوو چه

دپښتو درسم خط د کشالی ختمول
دپښتو ژبی دترقۍ دلاری نه یو
مضبوط خنډ دبیخه وبستل وو -
البته په دغه سلسله کښی
یوه ګونه افسوس هم کوو او هغه
داچه اوس هم ځمونږ ترمینځه
دالږ غوندی اختلاف چه کوم
پاتی شو، دغه هم نه دی په کار،
ځکه چه ددی اختلاف نفسیاتی
اثر د پښتو نخوا په دواړو برخو
ښه نه غورزیږی، مونږ دا غواړو
چه په څه طریقه د خواه مخواه
دغه اختلاف هم ختم کړی شی
چه دپښتو لاره بالکل بی ویری
او بی خطره شی، مونږ د بری
پښتو نخوا د «پښتو ټولنی» رئیس
ښاغلی ګل پاچا الفت،
صدیق الله رښتین، او
قیام الدین خادم ته دا خواست
کوو چه هغوی به د کوزی
پښتو نخوا د ادیبانو شاعرانو
تأثرات زړونو کښی محفوظ
وساتی او په خپلو غونډو کښی
به ورله څه حل راولټوی او دغه
رنګ د کوزی پښتو نخوا ادیبانو ته
خصوصاً «د پښتوا کېډیمۍ»

دایریکټر «اولسی ادبی جرګی» «پښتولیك ټولنی» «ادبی ټولی» او دغه شانی نور د ژبی مینو ته خواست کوو چه د دغه لیږغو ندی اختلاف لری کولو دپاره دڅه داسی لاره اختیاره کړی شی چه دواړه برخی پر متفقی شی -

که په دغه موقع مونږ دا دعوه او کړو چه زمونږ د «پښتو اکیډیمۍ» د پښتو ژبی دپاره دغه ړومبی قدم واخستو نو امید دی چه د اکیډیمۍ ذمه وار کسان به تری انکار او نه کړی،

هیله لرو چه ځمونږ د (اکیډیمۍ) ذمه وار کسان به د دغو فرضو دپوره کېدو نه پس دخپلو نورو فرضونه نه غافله کیږی نو مونږ دا کیډیمۍ ډائریکټر ښاغلی مولانا عبدالقادر ته داهم خواست کوو چه هغوی د دغه فیصله زر تر زره پر بس ته راوباسی چه فی الحال پر عمل شروع کړی شی -

کابل مجله: د پښتو رسم الخط مسئله یوه ډیره مهمه مسئله ده او کابل مجله ورته په ډیر درانه نظر ګوری او کومه فیصله چه دبری او لری پښتو نخوا او سنیو ادیبانو منلی ده دا خبره ډیره د قدر وړ ده او کومه برخه شی چه لاینحل پاتی ده دهغو دپاره هم ددې ځای دلیکوالو نه په مستد لواستنا دو ښکاره کول غواړو چه کابل مجله لری پښتو نخوا د پښتو دپاره دیوه حقیقت دڅر کندونی ممد شی .

ښاغلی محمد صدیق سیلانی

دعربی دارلعلوم زده ګوونکی

دتعصب د حقیقت په مقاله انتقاد !!!

د کابل د مجلی په دریمه ګڼه کی مې یو مضمون د ښاغلی څرګند ننګلامی په قلم د تعصب د حقیقت دعنوان لاندې ترستر ګو شو. ما و ویلی ګوا کی تعصب به څېړل شوی وی او دهغه اضرار به مینځ ته راغلی وی نو ځکه لوستلو ته ئی مجبور شوم. ننګلامی صاحب د بوڅه تمهید نه ورسته لیکی (کوم وخت چه مونږ بل ته د تعصب نسبت ور کړو که ښه ځیر شو زمونږ دغه راز تلقینات او تعبیرونه د بل شخص په باب هم د یوډول تعصب له مخې کیږی. یا په بل عبارت مونږ چه چا ته متعصب وایو په حقیقت کښې په خپله تعصب لرونو ځکه بل ته د تعصب نسبت زمونږ پر تعصب لرلو دلالت کوی) د ننګلامی صاحب دغه نظر به نه شم منلای ځکه اول دا چه دی تعصب ته ښه وائی او دلیل دا راوړی چه هر کله مونږ چا ته د متعصب نسبت وکړو نو بیا خپله هم متعصب شو که سړی څه نا څه ملتفت شی ده ادعا په داسی یوه دلیل ثابته کړی چه هر څرك ئې نه شی منلای ځکه دی اول تعصب ښه بولی او بیا له تعصب سره تعصب ښکاره کول تعصب بولی. دلته دده د نظر بی څخه د تعصب بد والی ثابتیږی نه ښه والی په بل ځای کښی ښاغلی ننګلامی اضافه کوی (د اطبیعی خبره ده چه بشر ځینی خو یو نه، دودونه، عنعنه، دین، مذهب، کلتور - ژبه قبلولې شی او دځینو څخه

(پاته په دریم مخ کښی)

د دوهم مخ پاته

ډډه کوی دځینو اخذاو تقلید کوی او ځینی بیا له ځانه لري کول غواړی) زه پوه نشوم چه د ننګلامی صاحب غرض له طبیعی څخه څه شی دی کلتوری ثقافتی عنعنوی بیل والی خود دمفکورو د تباین په اثر مینځ ته راغلی او دی ټولو ته طبیعی شیان نشو ویلای بلکه د اټول د هغو تفکراتو او تعمق نتیجه ده چه د پوهو او باسیاستو عناصرو له خوا څخه صورت نیسی هر کله چه مونږ اسلام او یا پښتونولی ته خوشبینه یو دا به له دې کبله وی چه زموږ د حیات او د ژوندانه چارې پرې ښه تامیندلی شی ننګلامی صاحب دې دلته ډیر نه ټینګیږی چه د یوشی سره مینه به نه حتمی د نورو شیانو سره د تعصب مفهوم لری، البته دهغو نورو نظریاتو سره چه د ژوندانه د پاره مضر دی او له انسانی تهذیب څخه لری دی چه که زه کومه علاقه نه لرم نوماته څوك متعصب نشی ویلای اوس غواړم چه تعصب په بیلو بیلو نګاهو دخپلو معلوماتو په اندازه وڅیړم - چه دهغو نه په لاندی کرښو کښی یادونه کوم -

اسلام او تعصب:

په اسلام کښې تعصب او بدبینی هغه مضر مکروبونه دی چه د اسلامی روح تهدید پکښی پروت دی بدبینی او سوء ظن په اسلام کی هغه مذمومه اعمال دی چه تخریبی ډډه پکښی ډیره موجوده ده حسن نیت په اسلامی نظر کښی د ژوندانه لپاره حیاتی ارزښت لری. (حضرت محمد ص) په اسلام کی داسی رویه نیولی وه چه په ډیره نرمی او ښه خلق سره ئې خپل دین په ډیر وخلکو قبول کړ - که اوس هغه آیتونه او احادیث چه د بدبینی او تعصب په برخه کښی موجود دی دلته راوړو خبره اوږدیږی.

تعصب دفکورو انسانانو په نظر کی

تعصب دفکورو انسانانو په نظر کښی د ظلمانی او توری شپی حیثیت لری چه حقائق یو قلم پکښی نه لیدل کیږی - که مونږ هغه بشری نوابغ چه د مزخرفو عنعنو او عاداتو په لری کولو کښی ئی هڅی کړی د دی په ځای چه مصلحین ئې وبولو د متعصبینو نسبت ورته وکړو دا به ښه نه وی ځکه چه تعصب د زیاتی بدبینی معناور کوی. لکه چه مطلق خوش بینی رسیدلی انسانان ښه ګڼی همدارنګه تعصب هم د هغوی په نظر کښی یو منفور څیز دی.

تعصب دنوی تربیی په نظر کښی:

دنوی تربیی علماء وائی چه باید خپل کوچنیان خوش بین تربیه کړی څو چه د بشری نړۍ د پاره مفید ثابت شی او د دوی په مینځ کښی تصادمات واقع نشی په دې کښی خو هیڅ شك نشته چه د ژبی او کلتور بیل والی د ځینو موانعو له کبله چه بعد مسافه هم پکښی شامله ده صورت نیسی - که یو سړی د خپلو حقوقو څخه حمایت کوی نو هغه ته باید د متعصب خطاب ونکړو ځکه تعصب یوه نوعه تیری دی چه د نورو پر حقوقو او حقه نظریاتو باندی کیږی هغه هم بی له کوم تفکره - پښتنو ته ځکه خوشبین یو چه که چیری پښتو ترقی کوی علوم په پښتو کښی ځائیږی زمونږ اولاد او راتلونکی پښتون نسل به ور څخه په آسانه استفاده وکړی. نو دی ته ارتقائی معقوله مفکوره ویلای شو نه تعصب

تعصب دبین المللیت په نظر:

ډیر داسی ستر او بشر دوسته شخصیتو نه موجود شوی دی چه هغوی دبشریت په نامه د گرد بشر خیر خواه دی.

(رسولان ع) او ددنیا لوی فلاسفه په دی آرزو او مجاهده کښی وو چه دبشر په مینځ کښی حسن نظر پیداشی او ددوی نظریات دی سره ننډ شی څو دبشریت روح ونه ځوریږی.

هو که دبشر په مینځ کښی تعصب او سوء تفاهم موجود نه وای هرگز به دی موجوده جنجالونو هم وجود نه درلودای خو خبره دلته ور که ده چه دحق حامی ته هم د متعصب نسبت کوو او دباطل ملگری ته هم- زما په عقیده باید دپاسنیو نظریاتو په اساس ددواړو په مینځ کښی تمیز وکړو د حق او حقیقت پیروانو ته دخدائی نوامیسو ساتونکی ووایو او هغی طبقی ته چه ښه ته په بده ستر که گوری داصلاح غوښتنه وکړو.

دغه وه زما نظریه او معلومات دتعصب په برخه کښی او دنورو فاضلو لیکوالو څخه هم هیله کوم چه خپل نظریات په دې برخه کښی ښکاره کړی.

دښاغلی جبران خلیل جبران اثر— دښاغلی عزیز قندهاری ترجمه

د مینی خیالی لیك

دا لیك یو خیالی لیك دی چه د پیاوړی لیکونکی جبران په قلم لیکل شوی دی په دی لیك کښی یوه مهجوره پیغله یو شاعر ته دزړه راز لیکی او دی دخپل حال همراز گڼی-- دلته دژوند ډیر ښه راز پټ دی — کابل مجله دښاغلی عزیز قندهاری نه تشکر کوی چه داغوره اثر ئی له انگلیسی نه په پښتو ترجمه کړی دی او هم دده دنورو مرستو په هیله ده!

(اداره)

گرانه شاعره!

وخت او زمانه دومره بی وفاده چه دوه خوازه په زړه پوری ئې دهر وخت د پاره جلا کړی دی او دهجران په ژورو کند و کښی ئې لیری غور ځولی دی چه دبیلتون شپی او ورځی سبا کړی .... او دمیوډك جامونه دخیال په عالم کښی وچښی او تنده ئی ماته کړی.

گرانه! ښه پوهیږم چه زه او ته دنړۍ سرچپه تحولونو سره بیل کړی یو او نه مو پریږدی چه دوې درې ورځی په خپله خوښه تیری کړو دادی زما او ستا تر منځ دا غزیو کوتی شته چه زما او ستا دجدائی او ناکامۍ سبب شوی دی....

گرانه! سره دهمدی سپیڅلی پیغلتو به دومره پوهیږم چه باید ستا دلیك څخه ډډه ونکړم مگر نه می غوښته چه پر زخمی پر هاردی تازه مالگه وپاشم او دسینی دانگار په مړو پړندو کښې دی او رلړونی وو هم که څه هم دارا ته معلومه وه چه ته زما لیك په غور لولی او څوواره ئې تکراروې... که څه هم ته تر یوی اندازی پلټونکی او په عین حال کښې بې پروائی خوزه ستا دسعادت دپاره تر خپل رښتنی ننگ تیریږم او خپل ځان ستا تر پا کښی مینی جاروم.

گرانه! که ما نشی لیدلای د شپی له مخی د سپوږمۍ سره دزړه خواله وکړه چه د کوچنی والی وخت د رپیادشی... لږ هڅه وکړه چه د کاروان منزل مو لیری دی او مونږ تر شا پاته یو

که غواړی چه دا توری شپې په رڼا
بدلی شی لازمه ده چه ناپوه
خپلوان پوه نه کړی چه نیمګړی
امید و نه سرته ورسیږی !

ګرانه ! زه سره د خپل
سپېڅلی پیغلتوب دومری پوهیږم
چه جګ اسمان دامید سترګی
نیولی دی او دخیال په ټال کښې
ځانګی له دې وچه نه می غوښته
چه ستا پرزخمی پرهار د مینی
اور وشندم چه ټوله بدن دی
د نوی عشق لمبی درو سوځی
ځکه چه ستا روح او در دمند
زړه هغی شهۍ نا ارامه
کړی دی چه دا سمان په فضا کښې
ګرزی .

ګرانه ! زه هم خپل په اور
سوځلی بدن او الوتی بڼې ته نه
پوهیږم او نه رامعلومیږی چه کوم
رنځ ما د موم په څیر ویلی کوی
زه دومری وس نلرم چه آه
وباسم او بی له پټی خولی څخه
نورڅه راپاته ندی . . . .

ګرانه ! زه دهغی مرغۍ په شان یم
چه ظالمان ئی په بازار کښې
خرڅوی او بی رحمه صیادئی په
قفس کښې دبدلو دپاره ساتی

کله کله چه دزړه چینی موج
ووهی نو دشاعر لیکانی په لاس
کښې ونیسم او دوړ کتوب ټولی
اندیښنی اوربړو نه کوم چه
زما په کوچنی زړه کښې
ساتلی وی د خپل ټټر څخه
راباسم او هغه ناولی ووینی چه
زما د عمر خوږی ورځی درسمو
او عنعنا تو دپاره وقف کوی
او په ویښه زما پر مخ دبی علمۍ
توره پرده غوړوی او سنبال
وزرونه راماتوی او دالوتنی
څخه ئی بې برخی کړی یم لری کړم

ګرانه ! پوره رامعلومه ده چه
دپیغلی دآرامۍ کوربی دویتشلی
شاعر دزړه څخه بل ځای نشته
لیرې ملګری ! که ته هم دا
فکرونه کوی چه آیا یوازی
به پدی اندیښنو زمونږ ټوله
در دونه تسکین شی ته دا فرض
کړه چه زه ستا غیږی ته پناه
دروړم آیا زما وستادا ر ښتنی
مینه به د تل دپاره سپیڅلی او خوږه
پاته شی او مونږ به بیا هیڅکله
دتیرژوند څخه شکوه ونه کړو ؟

زما دهیلو ثمر ته تردی دمخه
چه دمینی او عشق ډیوه روښانه
شی ښائی چه بیله زړه څخه

ځانته یو بل کورهم جوړ کړی
چه دځلمیتوب ژوندی احساسات
نورو ویشتلو ته نښانی او یادګار
پاته شی - مهربانه ! پرې می
زده چه په خپله حجره کښې
تودو نغریو ته شپې رونړی کړم
تر څو چه دمینی پاڼی ژړی
او نامعلوم وطن ته ابدی سفرو کړی

ګرانه ! که ته غواړی چه ددی
طوفانی سیند مخه په خپلو
ویرجنو اشعارو ونیسی ددی
امکان نشته ځکه چه داسیند په
دومره قهر روان دی چه ځمګی
او پاڼونه ورانوی ددی دسکون
دپاره څه ناڅه کلك عزم او
اوارا ده پکار ده ...

ګرانه ! که ددی پیښو حقیقی
علت ته متوجه او ځیر شو دا
ښکاری چه څه ناپوه کسان
مو دخپل نفسی چاغوالی دپاره
هر ډول بیی او خرڅلاو ته مشروع وی
که غیر مشروع - ساتی ځکه چه
یوه ډله مشران دخپل ناکامۍ
دتلافۍ لاری هم لری او دوړ کتوب
څخه مو ددی ثمر او نتیجی دپاره
روزی که ته ماپړوی او دبی
وفائۍ په جرم می ګناګاره
بولی خدازو چه زما قصور به

نوی ځکه چه زه بیوزلی هم خواله
گری نلرم او تر سختی شکنجی
او تر تنی لاندی نیولی شوی یم
کله چه احساسات راو پاڅیږی
اوو غواړم چه د سعادت څراغ
په خپله روڼ کړم بیا دوی زما
دا آرزو داسی راوژنی چه د دوی
گټه پر بناوی او د خپل نا ولی
مرام د سر ته رسولو د پاره په هر چل
او فریب سپینه جامه اغوندی..
گرانه! ما خپلی ټولی
هیلی او آرزو گانی چه په

خپل وړو کی ټټر او دوفاه په
غیږ کښې در ته ساتلی دی نو ته
مه ژاړه او د زمانی د پیښو او تحولو
څخه آه و فریاد مه کوه او پر غرو
خرابو، بوټو، کاڼو، باندی
مه گرزه چه داسی مظلوم مرغان
به ووینی چه گیدړی ئی ښکار
کوی او ځینو بی رحمو به عندلیب ته
لو می ایښی وی چه له خپلو
لغړو سرو چو چیا نو څخه ئې
نامراده جلا کړی ...
گرانه! که ته ما نشی لیدای

زه د هسکو غرو پر سرو لاړه او تا ته
گورم ستا لاس خو ما ته نه
رارسیږی مگر په خوب می ووینی
ځکه چه زه دی هم په خوب وینم
ځینی وختونه نا څا په د خپل
کټ څخه ستا په خیال راو پاڅیږم
مگر کوم وخت چه ستر گی روڼی
کړم تندی می له دیوال سره و نښلی
بیا دستی پدې فکر کښی لاهو شم
چه که تا خوب لیده نو ولی ستا تندی
تک سوردی او دوینو څاڅکی ستا
پر باړ خو گانو راتو ئیږی!!

دجرمنی له کریستل مجلی څخه

ښاغلی مترجم قدرت الله حداد

هغه څوك چه د سولی په باره کښی فکر کوی!!!

دریمه جګړه به و نه نښلی، د نړۍ لوی حکومت به جوړ شی دغه حکومت به دا توم په انرژی کنترول راواخلی او د نړۍ خلك به په یوه سیاست او یوه

ار نولد تاین بی

~~ښاغلی قدرت الله حداد~~

اقتصاد ژوندو کړی - دا د پروفیسر ار نولد - «تاین بی» ګروهه ده چه ده وروسته د خپل معروف اثر (پر تاریخ باندی یوه څیړنه) د خلاصو لو څخه به یوه مطبوعاتی کنفرانس کښی ښکاره کړه.

پروفیسور «ار نولد تاین بی» د نړۍ له لویو تاریخ پوهانو څخه دی - او دی د حقیقی او مثبتو فکر کوونکو په ډله کښی شمیرل کیږی په ۱۸۸۹ ع کال زیږدلی دی او دده کتاب د ده د ۲۳ کلو په کړاو او زحمت تمام شوی دی دغه کتاب په نهه جلدو او شپږ وزرو مخونو کښی لیکل شوی دی

دده تاریخی څیړنی ته د تاریخ نوی فلسفه وائی ځکه ده د هر عصر پر روحیاتو کړو وړو د دستور څیړنه کړې ده او ټول مدنیتونه ئی شمیرلی دی.

دلمړۍ عمومی جګړې په سر کښی دی آتن ته لاړ او ملته ئی دانیتکو څلیو او د نورو حفریاتو مطالعه کوله او ۱۹۱۵ ع کښی انګلستان د خارجه چارو په وزارت کښی د اطلاعاتو په څانګه کښی بوخت و په ۱۹۲۱ کښی د ترکیې او یونان د جګړې په موقع کښی د مانچستر کوارد یان د خبریال په حیث هلته تللی ؤ - دی وائی هغه وخت چه ما خپل کتاب شروع کاوه (۱۹۲۶) په نړۍ کښی اوه لوی قوتونه موجود ؤ او نن چه هغه کتاب پای ته رسوم یوازی دوه قوته په نړۍ کښی پاته دی - که چیری دریمه جګړه و نښلی دواړه له منځه ځی دی د شرق په باره کښی وائی چه چین به په خپل سیاست کښی له روسیې څخه جلا شی.

د نړۍ او سیدونکی باید د مرګ او ژوند څخه یو انتخاب کړی مګر زه ګمان نه لرم چه دریمه جګړه به و نښلی - د مذهبی معتقداتو رېښی لا ډیری ټینګی دی پروفیسر ار نولد تاین بی تر اوسه پوری څو ځله د امریکا د فاکولتو او پوهنتونو له خوا دعوت شوی دی، نوموړی ۶۶ کاله عمر لری دی دا عقیده هم څرګندوی چه په ختیځ کښی به یو قوی مرکزیت جوړ شی.

دښاغلی نور محمد ترکی - ترجمه

دا نارشۍ ماسک

شیلی دانګلستان یو خورا نامتو شاعر اولیکونکی وچه په ۱۹ پیړۍ کښې ئې ژوند کاوه دا ښاغلی خورا په آزادۍ مین او دا آزادی ئې دژوند په هره برخه کښې ستایله او خو ښوله دده اشعار واقعاً دا نسانانو دپاره خورا غوره او په زړه پوری آثار دی چه دهغې پیړۍ دخلکو په افکارو باندی ئې ژوره اغېزه درلوده دشیلی دشخصیت او دهغه دکارنامو معرفی کول کوم آسانه کار ندی زه دلته صرف دا کوشش کوم چه دده یو شعر (تر پورته عنوان لاندی)

ترجمه کړم :

آزادی څه ده؟ نه ویلا شی چه غلامی ډیره پرې ښه ده ځکه د دې خو صرف نوم لوړ شوی دی او دا خو صرف ستا دمغزو انعکاس دی .

دا (یعنی آزادی) دغه ده چه کار په داسی اجوره وکړی چه په مټی دی ژوند له یوې ورځی څخه بلی ورځی ته اوږد کړی چه ستا په رګوا و پیو کښې لکه په کور و کښې مستبدان کورونه جوړ کړی داسی لکه ته چه د دوی دپاره پیدا شوی ئې

او هم ستا څرخی، ستا هل ستا توره او ستا یوم د دوی دپاره وی .

که ته غواړی او که نه غواړی دا ټول (ستا قوت) د دوی دمدافعې او روزنی دپاره دی دې ترتیب ستا کوچنیان بی وینی او ډنګر ساتلی دی او د دوی میندی ئې وچی کلکی نارؤ نار غوند کړی دی کوم وخت چه دژمی سوړ سیلاوو لګیږی نو دوی لړزیږی او رژیږی دوی وږی او دا ډول ګولې ته په تلو سه دی چه ماړه خلک هغه په تمر دسره خپلو هغو چاغو سپو ته ورغور ځوی چه تل د دوی نر ستر ګولاندی پرانه او چړ چې وهی

نوله دې کبله روحا باید غلام وی، او پر خپلو افکارو او عقاید وباندی هیڅ کنترول ونلری په هغه شکل او ښه اوړې چه نور دای غواړی خو په پای کښې که ته لږ څه شکایت وکړې او هغه هم په خورا ضعیف آواز او ښهاری نو مستبدان او د هغو ملګری سمدلاسه ستا پر او ږو او افکارو جګ سپاره شی او وینه دی پروښو داسی غوټۍ غوټۍ و دروی لکه شبنم غوندی.

ښاغلی رشاد قندهاری

دپیغور حسرت

چه لښکرو د(جسرت)(۱)راوی ء(۲)ناتار پښتانه ځلمی ئې کړله تار په تار
ډیری مندی سره بورې کړی غښتلیو ډیر ډاګونه یی په وینو کړل ګلنار
ډیرو غشو سره پېو دل زړه وزغری ډیرو تورو سره سکښتل سرو سپار
ډیری توری سره پڅی شوې پر پېزو(۳) ډیر سرونه و پراته انبار، انبار
ډیر سرونه د ځلمو په سانګو بختې ډیر سرونه د مېړو د فتراک بار
ډیر سرونه رغړ ېدل په وینو لژند ډیر تنونه تړ پیدل پرهار، پرهار
ډیر لیچونه ؤ وتر پښو لاندی مات شوی ډیر ورنونه ؤ تر سوؤ لاندی افګار
په الجه کښی یې بندی بوتی ء(جسرت)ته (فیروز خان)(٤) دپښتنو لوی سرداز
پر ګګر (٥)تبر دسوبی(٦)لمرراوخوت ښاد ناموئې پر سر واخیستی ء دربار
بریالو به په نخوت وړاندی کولې ککری د نومیالیو وار په وار

ورښودل به فیروز خان(جسرت ګګر)ته
دهر سر، نومو کهول، ملکو تبار

په دې ترڅ کښی ئې یوسرراوی ء دربارته چه (فیروز) یی له نامه وکا انکار
سر یی مه بوله د سرو ګلو ګېډی وه نامرادی یی ژړول یار و اغیار
له ښکلا مینېدې ور باندی خوندې له پرتمه یی زمریو کاوه ډار
نازېدل یی په وصال د جنت ښکلی پر ښتو یی په تپاک څار له (۷)لار
ښا پیروبه یی بلا، بلل خپل لور ته په لیدو یی دښنو (۸)ووایی ځار ځار
پرځوانی باندی یې توی کړې هغواوښکې چه ئې وینو وته تېزی وو بار، بار
په کلو، چه یی و مرګ ته منتظر وو شول هغه غلیم لېمه پسی خونبار
هغه خولې یی په ثنا ستاینه سر شوې چه ئی وازی په ښر اوی هر سهار
ډیرو ډیرو یی پر توره آفرین کړ ډیرو ډیرو شاباسی کړه پرې نثار

ډیرو ډیرو یی قصې د ټینګارو کړې
غلیمان یی پر مېړانه شول اقرار

هاله و وې په مسا(۹) (فیروز) ښاغلی چه داراز به اوس په فخر کړم اظهار:
«دازما دلېمو تور، د کوګل ستن وه د غلیم د زړه نشتر، د ستر ګو خار
دازما د ګرت(۱۰)توبری(۱۱)دموتی تېغ ؤ د غلیم د پښو ځنځیر، د غاړی مار
دازما د پېزی ساه، د ښارګ وینه دازما د بدن زړه، د زړه قرار

دا زما د کهاله ما لگه، د کار خوندؤ دا زما د باغ میوه د بن بهار

دا زما دلاس امسا (۱۲)، د امید څانگه

دا زما د ژوند حاصل، د مرگ یادگار»

په حیرت ورته (جسرت) وي «فیروزه! تا لمړی ولی ونه ښوو دا نامدار؟»

ستونی ډك شود (فیروز) له ډیره غریبه (۱۳) تر لیمو ئي ورته وغور ځید شرار

وي چه «موږ هیڅکله نه شمیرو په ځان کښی څوك چه مخ پر تندی نه واخلی گذار

مابی نوم په ژبه نه واخیستی ځکه هسی نه چه ورنه شوی وی ادبار

هسی نه چه (شاهین) (۱٤) مړوی په سپیتانه خدا ومه کا چه را یاته نه شی عار

د زرو نامراد وزو یو داغ جسرته!

په حسرت دپیغور نه ارزی د پلار» (۱۵)

(۱) جرته کافر دپنجاب په شمالی برخو کښی د گهگر قام مشرؤ په ۸٤۳ه کال یی دډهلی د پاچا (سلطان محمد شاه) په حکم دملك سکندر (تحفه) په ملگری د پنجاب په غرو کښی پر پښتنو کلك برید وکړ

(۲) راوي، راووړ (آورد)

(۳) پېزی، جسد

(٤) فیروز خان لودی دشمالی هند دمشهور پاچا (سلطان بهلول لودی) (۸۵۵-۸۹٤) اکاؤ

(۵) گگر (گهگر) یولوی، خورا سرشوخ او توریالی قام ؤچه د پنجاب په شمالی غرو کښی اوسیده.

(٦) سوبه (فتح، فیروزی، ظفر)

(۷) څارل، ترصد

(۸) دښنه، دشمن، بدخواه

(۹) مسا، تبسم

(۱۰) گرت، شست

(۱۱) توبری، خدنگ، ناوك

(۱۲) امسا، عصا

(۱۳) غریب، گریهٔ گلون گیریکه اشك نریزد وآواز نه برآید

(۱٤) شاهین خان دفیروز خان لودی سردار خورا توریالی ځوان زوی ؤ چه په دغه جنگ کښی شهید شو او کورنۍ بی تراوسه پوری په هند کښی مشهوره ده، دشه کت افغان مؤلف (محمدعبدالحکیم) له دغی کورنۍ څخه دی.

(۱۵) دانکل د۱۳۱٦ له کالنۍ څخه اخیست شوی دی.

ښاغلی محمدابراهیم «خواخوږی»

بامیان ته خطاب

د مړونو زوړ مسکن ښکلی بامیانه د لرغونی پښتنونخوا د ننګ داستانه
د چنګیز خونخوار په ظلم باندی ورانه ای زمونږ د تور یالو د جنګ میدانه
تا زمونږ د نیکه ګانو برم لیدلی
تا داستان د کنشکا دی ارویدلی

ته مرکز د تمدن د ایشاوی ته تا توبی د پوهانو د دنیاوی
په پوهنه کښی ډیوه د شرق په خواوی د بودیك د پیروانو ښه لیلاوی
ته زمونږ د ننګیالیو قربانګاه ئی
د مغل په تاړاکو نو ښه آګاه ئی

هندوکش دی سرجګ کړیدی آسمان ته د وقار ښونه کړی زمری افغان ته
په حیرت ولاړ دی پیښو د جهان ته حال په ژبه وایی غوږ کښیږده بیان ته
هیڅ غلیم ته ماخپل سرندی تیټ کړی
نیغ ولاړ یم وا ورومخ دی راپټ کړی

د تاریخ پاڼی په تا دی زرنګاری ستا په لار کښی ځلمو پریښولی چاری
د (خوا خوږو) وینو وو هلی داری داسی ږغ به وکړ هر یو پخپل واری
ته تر هر څه راته ګران ئی ای بامیانه
زمونږ مرکز د تمدن د ننګ داستانه

غرځستان

یه مختلفو اثارو کښې د (غرجستان) کلمه راغلی او لیکلی ده زمونږ دګران هیواد د افغانستان یو ولایت په پخوانو زمانو کښې د غرجستان په نامه یاد یده. او د (غرجه) کلمه هم په کتابو کښې راغلی او لیکلی شوی ده چه غرجه هم د افغانستان له قبایلو څخه دیوې قبیلې نوم دی. نوما وغوښتل چه په دې باب کښې لږ و ډیر څیړنه وکړم چه غرجستان کوم ځای ته وائی او د افغانستان په کومه سیمه کښې پروت او د کومې برخې نوم دی؟ او باید وڅیړله شی چه «غرجه» د کوم ټبر نوم او په پخوانو وختونو کښې د اتبر په کوم ځای کښې استوګنه لرله؟ څرګند یږی چه داد «غرجستان» او «غرجه» کلمې یو له بله ارتباط هم سره لری یعنی غرجستان به هغه ځای او هغه سیمه وی چه د غرجه ټبر هلته استوګنه یکښې لرله او په هغه ځای کښې د دغه قوم او طایفې د اسنوګنې په لحاظ د ځای په غرجستان موسوم شوی دی، لکه افغانستان چه د افغانانو، د استوګنې ځای او بلوچستان د بلوڅو د اوسیدنې هیواد او وزیرستان د وزیرو د استوګنې وطن او پښتونستان د پښتنو وطن او داسې نور، نو له دغه کبله د او طنونه په دغو نومو، موسوم شوی دی.

د غرجستان لفظ مرکب لفظ دی چه له دوو کلمو څخه جوړ شوی دی، یوه کلمه او اول جزء ئې د «غرج» یا «غرجه» کلمه ده او دوهمه او دوهم جزء یې د «ستان» کلمه ده غرج خو اصلا (غرجه) یا (غرجی) دی چه د ترکیب په لحاظ یې اخرنی توری (ه) یا (ی) حذف او لویدلی ده، او دوهمه کلمه (ستان) همهغه د «ستهانه» کلمه ده چه په اوستا کښې راغلې ده د استهانه یوه آریائی کلمه ده چه د مینې او د استوګنې د ځای معنا لری، دا کلمه په استعمال کښې تخفیف شوې د منځ (د) او د اخر (ه) یې حذف او لویدلی دی یو ځای دستان کلمه یا ته ده چه دا کلمه په شایع او مطرد ډول مستعمله او رواج لری، په داسې ډول دا کلمه مروجه ده چه نه یوازې دلته په مرکزی آریانا افغانستان کښې مروجه او استعمال ده، بلکه د دنیا په نورو ځایو کښې هم لکه په غربی خوا کښې لکه انګلستان او لهستان مستعمله ده او په شرقي خوا کښې لکه هندوستان او پاکستان او نورو کی هم مستعمله ده. او ری کلمې دومره غمومیت موندلی دی چه په نوره نړۍ کښې پرته د آرین له قبائلو څخه په نورو اقوامو کښې هم رواج لری لکه عربستان، حبشستان او نور. دلته هم د غرجستان لفظ دا معنا لری چه یعنی د غرجه یا غرجی طایفې مینه او د هغې د استوګنې او اوسیدنې ځای ؤ د ولایت او د اسیمه چه داد (غرجی) قبیله چه د افغانستان له وګړو څخه یو تبر دی، هلته اوسیدله نو د ځای د هغو په نامه موسوم شوی دی، چه غرجستان ورته وایی کیده او په کتابونو

اوتاریخی آثارو کښی هم دغرجستان نوم زیات راغلی اومشهوردی.

غرځستان او دهغه څلورخواوی:

غرځستان زمونږ دهیواد افغانستان په شمالی خواوو کښی پروت دی اودیوې ستری سیمی پخوانی نوم دی، اوپه لاندی ډول سره له څلورو خواوو محدود دی:

داسیمه داوسنی بادغیس څخه شعروع شوی دلمرخاته خواته داوسنی سرپل پوری رسیدلې ده اودجنوب خواته دغور اوفیروز کوه په سیمو پوری نښتې ده، اودشمال خوائې داموسیند خواته نیژدې شوې ده.

داسیمه دهیواد دشمالی خواوو تقریباً نیمه لویدیځه برخه تشکیلوی.

او دغرځستان دسیمی زیاته برخه دمرورودپه مشهورسیند اوبه کیږی اونوری برخی ئی دنورو هغو سیندونو په اوبو اوبه اوسیرابه کیږی چه دهغه ولایت دجنوبی خواله غروڅخه راوتلی دی. ددغی سمې زراعتی شته منی په داسی اندازه سره ده چه غلی او دانی دهغه ولایت داوسیدنکوودپاره پوره کفایت کوی اودهغو ښی بس کیږی، نه اړیږی چه دهیوادله نورو خواوو څخه دخپلی ازوغی لپاره غلی راوړی، اوهرډول میوی ډیری هلته کیږی چه دهغو خلکو دپاره ښه بس او پوره کفایت کوی.

دحیواناتو دروزنی له حیثه ددغی سیمی شته منی:

دغرځستان سیمه دوښو اونباتاتو له حیثه خوراشته منه اوبډایه ده، ځکه داسیمه ډیری ښی او سمسوری ورشوګانی لری، چه له پخوانو پیړیو څخه دپښتنو مالدارانو دمیږودرمو اوداوښانو اوآسانو دګلو دروزنی اوتربیې لپاره یو مهم اوزیاد ښه مرکز ؤ. لکه چه یو پخانی تاریخ لیکونکی اوسیاح (ابن حوقل) چه په ٤ هجری (١٠ میلادی) پیړۍ کښی دغو سیمو ته راغلی او دلته یی سیاحت کړی دی وایی: چه (دجوزجان دولایت په غونډیو اوغرواو شیلو اوهوارو کښی مالداران اوسیدل اوپه دغوسیمو کښی دهغو دمیږ ورمی او داوښانو اواسونوستری ستری ګلی څرودلی.) ددغه سړی له حکایت څخه څرګندیږی چه دهغه وطن اوسیدونکومالونه درلودل او دخپلو رمو او ګلو دروزنی دپاره به هلته اوسیدل اوڅرګندیږی چه دهمدغو سمسورو ورشوګانو او وښو لرونکو مځکوله کبله به پښتانه هلته زیات اوسیدل چه غرونه شیلی اوهواری ټول دهغو په کښ دیواورمواو ګلو ډک وو.

او داجوزجان دغرځستان یو ولایت ؤ، اودهغه مرکزی حیثیت یی درلوده، او میمنه، اندخوی، سرپل اوشبرغان او اخچه په پخوانیو وختو کښی په هغو خپلو دهغو زمانو په مروجو نومونو دغرځستان دنوموړی جوزجان دولایت مربوط ښارونه وو.

اوپه اوسنو وختو کښی هم داسیمی دپښتنو پوندګانو دمالو اورمواو ګلو دروزنی اوساتنی دپاره خورا مهم او ښه ځای دی خوله بده مرغه کوم وخت چه دمغولی چنګیز برغلونه

زمونږ پر مملکت راغلل په هره
برخه کښې مقابلې او جګړې
دپښتنو له خوا ورسره کیدې ،
چه څو په پای کښې له زیاتو
خونړیو او کلکو جګړو او مقابلو
څخه وروسته دچنګیز تباه کارو
لښکرو غلبه وموندله، نو په اول
کښې چه دافغانستان د شمالي
خوا و پښتانه مخصوصاً دغرجستان
پښتانه لومړی او په اوله مرحله
کښې دچنګیز په مقابله کښې
دریدلي وو، او خورا زیات
زیاتونه او تلفات یې هغو ته ور
اړولي وو، نو دهغو له غلبې او بری
سره سم هم همدغه دغرجستان
پښتانه دهغو دتباه کاریو په مخ
کښې واقع شول او دچنګیز له
خوا دقتل عام او تخریب او امر
هم اول پر دغو پښتنو باندې
عملي شول کله چه دغو پښتنو
خپل جګړن او تور یالي دغلیم
په جګړو کښې له لاسه ورکړل
نو دتباه کوونکي او کلک زړی
دښمن څخه دنجات او خلاصیدو
په غرض دغرجستان له سیمو
څخه راولیږدیدل او دافغانستان
جنوبي او شرقي سیمو ته راغلل
او په دغو سیمو کښې بیا هغو
پښتنو دخپلو ښایو ګډ با با
دولت او شیخ ملګیار غوندې
میړونو په مشرۍ راولاړ شو دنه یې
له هغو غلیما نو سره مقابلې
او جګړې شروع کړې او چه
څو یې وسه وه ورسره یې وهل
له دې ماجراګانو وروسته بیا
دیره زمانه وروسته پښتانه هغو
خپلو آبائي او اجدادي سیمو نه
یعنې دغرجستان سمسور و
ورشو ګانو ته ورستانه شول
او بیرته یې هغه دخپلو نیکه ګانو
مینې اشغال کړې دې او خپلې
دمیږ ورمې او دارو ښانو او اسانو
ګلې، هلته روزې او دخپلو مالونو
په تربیه او روزنه کښې دهغو
وابنه لرونکو او سمسور و مځکو
له شته منې څخه ګټې اخلې
یعنې له یو ځل شاریدو او تخریبا تو
څخه ورو سته بیا که څه هم
دغرجستان هغه پخوانې مدنې
عمران او ودانې بیرته نه ده
راګرزیدلې ، خو دومره شوې دې
چه له ډیرې زمانې څخه وروسته
بیا پښتانه ورستانه شول او خپلې
آبائي مینې بې ونیولې او دمالونو
په روزنه بوخت دې، دخپلو پخوانو
نیکه ګانو په څیر بیا د خپل
میواد، غرجستان له سمسور و
ورشو ګانو څخه در مو او ګلو
په روزنه کښې استفاده کوې.

دغرجستان انځوري څیړنه :

وړاندې ذکر وشو چه دغرجستان
لفظ مرکب لفظ دې دو ه جزونه
لري چه یویې « غرج » بل یې
« ستان » دې. اوس غواړو چه
دهغه لفظ ښه نور هم وڅیړو
او نوري، نوري شرحه او بیان کړو،
په حقیقت کښې دغرجستان لفظ
له دریو اجزاو څخه جوړ شوې دې
په داسې ډول چه یو جزء یې « غر »
او دوهم جزء یې د « جه » او یا
د « جې » کلمه ده چه دا د (جه)
او (جې) کلمې دواړې په تاریخي
آثارو کښې راغلې او په متعدد و
ځایو کښې لیدلې شوې دې ،
په داسې توګه چه د (جه) او یا (جې)
کلمې د (غر) له کلمې سره یو ځای
اومرکبې شوې دې، نو د (غرجه)
او (غرجې) په شکلو نو راغلې
او ذکر شوې دې، او دریم جزء یې
هغه د (ستان) کلمه ده چه زیاته
عامه او له پخوا زمانو څخه
په عامه نړۍ کښې مستعمله او
مروجه ده. دغرجه لومړی جزء
(غر) یوه آریائي پښتو کلمه ده

(د کوه په معنا) چه په پښتو او
د پښتنو په هېواد کښې مستعمله
ده، او دوهم جزء یې د (جه) او یا
(جی) کلمه ده، دا دواړې کلمې
چه سره یوځای او مرکب شوی
او د (غرجه) او یا (غرجی) په شکل
مستعملې او په پخوانو تاریخي
آثارو کښې راغلې دي دا مرکبه
د غرجه او یا غرجی کلمه مورخینو
د قوم او یو پښتانه قبیل نوم بلل دی
ځکه د غر کلمه خو پښتو لغت
دی او د (جه) او (جی) کلمې به
اصل کښې (جان) ی په شاع
ډول سره یا (ا) له منځه حذف
او «جی» شوی دی او یا خو
د جای په کلمه کښې تخفیف
راغلی او د (جه) توری ور څخه
جوړ شوی دی، خو معنایي همغه
جای دی، چه ددې غرجه او یا
غرجی د لفظ معنا او مفهوم
(دغر او سیدونکی او یا په غره کښې
زیږیدلی) کیږی چه په فارسی
د کوه نشین او یا کوهزاد په
معنا راځی. نو دا دغرجه او یا
غرجی کلمه د کوم شخص دپاره
پښتو لقب او یا خو اصلی نوم دی.
او د اصلی نوم دپاره که څه هم
لازمه نوی چه اصلی وضع د کوم
علت او تناسب له مخې وی
خو اکثر داسې وی چه د نوم
د اینبودلو په وخت او ابتدا کښې
ځینې منا سباب او محلوظات
په نظر کښې نیول کیږی او په همغه
تناسب سره نومونه اینبودل
کیږی، په تیره په پښتنو کښې
چه د دری پښتنې نومونه د بر
او زیات د داسې منا سباتو په
اساس اینبودل شوی دی لکه
دغرغښت. او غرښبون. او کران
او غرو ښتی نومونه او داسې
نور چه ټول د همغه لفظ د معنا په
لحاظ اینبودل شوی دی نو دا
دغرجی او غرجه، نوم چه مورخین یې
د کوم پښتانه قبیل نوم ګڼی دا نوم
به البته په ابتدا کښې د همغه قبیل
د اومرنی پلار دپاره په همغه تناسب
چه په غرونو کښې زیږیدلی
او یا یې په غرونو کښې ستر ګنه
لر له اینبودل شوی وی.
چه بیا د دغه شخص د ځوځات
اولادی دپاره هم دا نوم پاته
او تر پایه پوری د دغه قبیل قوم
او قبیل دپاره نوم پاته شوی دی،
چه په تاریخي آثارو کښې هم
دغرجه او غرجی په نومونو
یادشوی دی.

ځینې د تاریخ خاوندان وایي
چه په مرور زمان د دغه نوم
په تور بور او حرفونو کښې تغیر
او بدلون راغلی دی چه د غرجه
او غرجی لفظ (خلجی او
غلجی) بدل شوی دی چه همغه
لفظ نه له استعمال څخه لویدلی
او د خلجي او غلجی لفظونه شایع
او پرژبې باندې رواج شوی دی
چه په خلجی کښې د (خ - ل)
د (غ - او ر) پر ځای راغلی دی
او د غلجی په لفظ کښې د غرجی
د منځ توری (ر) په (ل) بدل شوی
دی. او د (غ) او (خ) توری او
د (ر) او ل) توری په خپل منځ کښې
په مخرج کښې سره نیژدې
هم دی نو ځکه سره بدلیدای شی
او دا ډول تغیر او تبدل په پښتو
او نورو آریائي لغاتو او
حرفونو کښې زیات راغلی او
لیدل کیږی. لکه چه له کوم
وخت څخه چه د غرجستان
نوم زمونږ په هیواد کښې
له استعمال او د خلکو له ژولو
څخه لویدلی دی، د غرجه
او غرجی نومونه هم له استعمال
څخه پاته او په عوض یې غلجی
او غلجی نومان مروج او استعمال

شوی دی لکه چه په دې و ختو
کښې هم همداد غلجه او غلجئ
نومو نه رواج او ویل کیږی
او دپښتنو د یو ستر تبر د یا ره
مستعمل او شایع د ی .
او داخبره چه دغره او سید و نکی
او یا دغره دزیږیدو نکی معنا
او مفهوم خو یوا ځی د پښتو په
(غرځی) شکل کښې چه د(ج)
په عوض کښې د(خ) توری راشی
ادا او مطابقت کولای شی ځکه
چه د عا مو پښتنو لهجه د ا سی
د ه چه د مکان او موضع دپاره
ځای په(خ) سره استعمالوی که
څه هم ځینی پښتانه دځا ی په
عو ض د(جای) کلمه استعمالوی
او د جا ی استعمال یو ا ځی په
فار سی او فارسی زبانانو کښې
دی او داهم فا ر سی لفظ د ی
نو پښتا نه چه ئی و ا یی هغه
هم فا ر سی لهجه د ه نو مو نږ
و یلا ی شو چه که څه هم په
کتابو او تاریخی آثارو کښې
د (غرج)، (غرجه) او (غرجی)
ا لفاظ او لغات راغلی او غرجستان
هم په جیم سره راغلی دی، خو اصلی
او لو مړنی شکلونه یی (غرخ)
(غرخه) او (غرخی) او (غرخستان)
دی چه دغه د مکا ن او جای
معنا او مفهوم په پښتو کښې د(خ)
پنه حرف سره ادا او
استعمال دی خو داهم دزمانو
او ختو تو د تبدیلیدا ثر شوی دی
چه اصلی شکل یی او ښتی او ځینو
حر وفو یی تغیرمو ند لی دی .
او چه په کتابو او تاریخی لیکنو
کښې دا شکلونه په (ج) راغلی دی .
دهغه یو عات دادی چه: دپښتو
(خ) شکل په یخو انی پښتو
او یخوانو پښتو کتابو کښې په
د(ج) په شکل لیکل کیده چه
یو تکی به یی د(ح) پرسر بل به یی
لاندی ؤ، نو چه مور خینو دا نومونه
په کتابو کښې لیکلی دی (ج)
هغه یو تکی یی غورزولی او یو
لاندینی تکی یی استعمال او لیکلی
دی نو همدغه د غرجه ، غرجی
او غرجستان شکلونه مروج او په
کتابو کښې راغلی دی .
دو هم دا چه : داد غرجه
او غرجستان الفاظ د فا ر سی
او د عر بی مو لفینو په خپلو
آثارو کښې لیکلی دی او نو مور یو
د فارسی او عربی لیکونکو چه
د پښتوله توریو او کلماتو سره
بلدیت نه لاره او د هغو په معنا
او مفهوم نه پوهیدل، نوئي دلفظ
دپاره دمعنا پیدا کولو په لحاظ
او دخپلو شناخته اوزده حروفو
پدملا حظه یی هغو دپښتو کلماتو
او حرو فو ته تغیر ور کړی دی
او په دې ځای کښې یی د پښتو
د (ج) پورتنی تکی پر ی ښیی
او د (ج) حر ف یی استعما ل
کړی دی نو دا نومونه په دغو فارسی
او عر بی آ ثارو کښې په د غو
اشکالو راغلی دی .
او حقیقت دا دی چه داخو پښتو
کلمات دی ، نو با ید په پښتو
اشکا لو سر ه بیر نه تصحیح او
په پښتو حروفو ولیکل شی، نوله
همدغه امله د ضمو ن عنو ا ن
مو نږ اه اصلی خپل حقیقت سره سم
په پښتو (غر ځستان) لیکلی دی
او د(غرخه) او (غرخی) کمی هم
پښتو وا یو او یخپلو اصلی پښتو
شکلونو سر ه یی لیکو.

(ثابت)

ښاغلی و اسعی

هیلن که هڅن ....؟

زما په خیال دعنوان دوې کلمی به هر لوستونکی ته نابلده اووار دواره نامانوسه څرګندی شي ځکه چه تر اوسه به ئې دهیلی او هڅی څخه پدغه قیافه جوړی شوی کلمی او مشتقات تر نظر نه وی تېرې شوې، بلکه اول په اول به ئې د تعجب او حیرت سبب و ګرزی مګر مونږ به ئې حیرت او وحشت ژرور رفع کړو او ورته وبه وایو چه دپښتو د ګرامر په اساس «ن» د صفتی او نسبتی معانی ؤ د پاره عام مستعمل او مروج دی دهری معنی د نسبت دپاره چه د کلمی په آخر پوری و نښلی صفتی او نسبتی مفهوم افاده کوی چه مثالونه ئی په ژبه کښی ډېر دی لکه لچ څخه (لچن) دپم څخه (پمن) دنو-نم څخه (نون) او نور، خو دلته زمونږ مقصد د دې دوو کلمو دراوړلو څخه لغوی څېړنه او فقه اللغه نده دسچه پښتو افاده مومطلب وه او همدغه مطلب په حاصل شو.

اصلی غرض زمونږ د دی لیکنی څخه دادی چه دا خبره څرګنده شی چه هیلن څوك او چاته ویل کیږی او هڅن کوم سړی دی، او هر یو د کومی کومی تر بیی محصول او مولود بلل کیږی، یا دا چه په ټولنه کښی د دغو دوو طبقو د افرادو څخه کومه یوه د اجتماع او د بشر د پاره مفیده بلل کیږی مغه جامعه مترقی ده چه هڅن افراد پکښی ډېر وی او که بالعکس کومه ټولنه چه هیلن کسان ئی زیات او غالب وی؟

اوس به دا خبره وکړو چه هڅن کوم سړی ته وائی ځکه نو وایو هڅن هغه سړی ته ویل کیږی چه پخپل مسلك او تخصص کی چه لری ئې یا کومه وظیفه او تکلیف چه په رسمی ډول ده ته ورسپارل شوی وی، یا په خپل شخصی ذوق کومه چاره ده د ځان دپاره تاکلی وی او هغه ئې د ځان وظیفه او مشغله فرض کړی وی د ټولو اطرافو او شاؤخوا څخه ئی احاطه پر کړی، او پداسی حاوی او جامع ډول پر را ګرزېدلی او محیط شوی وی لکه د علم الفلك قدیم علما چه وائی فلك الافلاك ئې پر اطرافو باندی محیط او حاوی دی. د هڅن سړی دا خاصه او ممیزه وی چه هر څومره چه پخپله وظیفه کی وړاندی ولاړ شی بیا هم قناعت نلری او تنده ئی نه وی ماته، ځان غائی او هدف ته رسیدلی نه بولی، هر څومره چه پر مخ تګ و کړی او د کامیابۍ مخ ووینی یا ئی د موفقیت رڼا تر ستر ګو شی او دبر یا لیتوب څرك ورته وځلیږی لائې شوق او نشاط ډېر شی فعالیت او زیار وزحمت ته دوام پسی ور کړی څو یو ګام بل پر مخ پسی واخلی د دې ګامه سره ئی شوق او هڅه نوره هم پسی زیاته شی د نوری کامیابۍ په تلاش لیڅې راوغړی خلاصه دا چه د هر ګام په وړاندی ایښوولو ئی د هغه هدف وخوا ته (چه آخری حد او پای ئې ده ته پخپله هم ندی معلوم او نه ئی وروستنۍ نقطه او دپای ټکی ورته تاکلی دی) عزم او اراده ګړۍ په ګړۍ او وار په وار تقویه کیږی او ټینګوالی ؤ کللوالی مومی، د هغه سیند

غوندی ئې همت لحظه په لحظه او دقیقه په دقیقه پرمستی او څپو راځی چه په سرچشمو او منابعو کی ئی دپسرلی تندباران اوزیږی او به دپاسه راتوئیږی اودغرو دسرو واوری پکښی راشوه کوی.

هڅن افراد دعالی تربیئې او صحیحی اوهسکی روزنې محصول اومولو دوی هغه ذوات په ژوند کې هڅن وی چه په تعلیم اوتربیه کی دا احساس یکښی روزل شوی او نشو او تقویه ئی پښکی موندلی وی (که څه هم دا احساس د فطری غرائزو څخه دی اولکه دافرادو ترمیانځ چه په هره خوا کی محسوس فرقونه موجود اولیدل کیږی خوك زکی خوك غبي یوڅنګه بل څنګه وی یعنی دوه انسانان یوشانته نه دی پیداشوی) خوبیا هم دا ممیزه چه ترډیری اندازی په استعداد او فطرت پوری اړه لری تربیه اوروزنه هم ډیره اغیزه پرلری اوبی دخله نه پکښی بلل کیږی.

په نړۍ کی چه موږ هر څه نوابع اودفوق العاده او هسك استعداد انسانان راوا خلو اوورته وګورو اودد وی دژند حالات مطالعه اودد ماغ اوفکر محصولات ئې پدقیق صورت ترغوراو ملاحظه لاندی ونیسو دا راته واضحه شی چه د دوی نبوغ او فوق العاده ګی ددی ممیزې سره سم ار تباط لری او هر څه چه دوی موندلی یائې په برخه شوی دی دهمدغی لاری څخه وه علماؤ مکتشفینو، مخترعینو، لویو قانیحونوتولوهمدغه شی درلود یعنی هڅه اوله جدوجهد څخه آرام نکول ددوی د موفقیت (چه پخپلو مربوطوچارو کښی ئې په برخه وه او په نړۍ کښی ئې د هر یوه نوم دلمرغوندی روښانه اوځلاند څرګند کړ) مهم عامل اوشرط بلل کیږی مثلا اډیسون غوندی لوی مکشف چه دنیا به ئې تر آخره پوری ممنونه اومرهونه وی علاوه پر خپلو شخصی استعدادونو اوفکری اودماغی انکشافونو د هڅی (مرام ؤهدف ته په انتهانه قائلیدل اوله جدؤجهد څخه لاس نه اخیستل) له عامله څخه کامیابی موندلی ده اودهمدغه پذریعه ئې دلویولویو موفقیتونو کلی ګانی لاس ته ورغلی دی. یوازی اډیسون نه بلکه هر څوك چه په نړۍ کښی ئې ته په لوی شخصیت اوشهرت پیژنی هغه به هرومرو هڅن وو او همدغه خصیصه به ئې درلوده دد ې خصیصی څښتنان که دمخترعینو اومکتشفینو د طبقی څخه وی نړۍ ئې ودانه کړی ده او دبشر دپاره ئی دنیکمرغۍ اوسعادت درفاه او آرام ؤ راحت لوی لوی سوغاتونه اوتحفې اوهدیی تهیه کړیدی، او که دعلماؤ اوپوهانو ریاضیونو اودساینس پوهانوله ډلی څخه وه هر یوه پخپل شق کښی ستر خدمتونه بشریت ته وړاندی کړیدی دد اسې علمی معضلاتو په حل موفق شوی، او هسی سختی غوتی ئې پرانیستلی دی چه که دغه دهڅی عامل پدوی پسی نه وای باعث ګمان نه کیده چه دعلم او اکتشاف په نړۍ کښی به دافوق العاده فتوحات مونږ لیدلای. هو! دهڅی ممیزی چه هرچیرې لحان ښکاره کړیدی اودهر چا سره چه ئې مرسته کړیده خپل څښتن ئی په نړۍ

کښې دلمر په شان ښکارندوی
او دومره ئې مشهور کړیدی چه
بشریت ئې ترخوراډېره پوری
نشی هېر ولای نسلونه ئې نوم
او نښان او مینه او محبت یو دبل
وزړو ته ورسپاری او ددوی عظمت
او هسك شخصیت نما نځی بلکه
په ویاړی دې طبقې دبشری ټولنی
دپاره هغه چاری او اعمال سرته
رسولی او هسی پراخې او واضحی
لاری ئې ورته جوړې کړیدی
چه دراتلونکو پېړیو دپاره ئې ډېری
تیارې او تور گو ټو نه رو ڼه
اوروښان کړه،
اوس به و گور و چه ددوی
مقابله طبقه هیلن افراد څنگه
کسان او د کومی مقولې
او ماهیت افرادا ود څه ډول
روزنی او تربیې مېوه او محصول
بلل کیږی دا طبقه اساساً
او وار دواره د غرض او سوء نیت
له خوامیدان ته راوزی، او که
دا احساس ناروغی او مرض
وبولو نولمړی مکروب ئې دځان
ځانی، انانیت او شخصی گټی
او سوء استفادې څخه نشئت
کوی چه داټوله دناوړی تربیې
او دټیټو افکارو نتیجه وی فعالیت
ئی محدود او فقط ترهغه ځایه وی
چه شخصی گټه پربنا کیږی محیط
او ساحه ئی خورا تنگه وی .
داطبقه که علماء او فنی
افراد پکښی پیداشی (او اغلباً
نه پکښی پیدا کیږی ځکه چه
هدف ئی تر شخصی استفاده
تجاوز نکوی او هغه ژر لاس
ته ورشی) دټولنی او جامعې
دومره په ښه نه ورځی چه
اهمیت دی ورکړ شی
دوی که دفن او مسلك له
خاوندانو څخه او که درسمی
وظیفې او اداري شق له افرادو
څخه وی په خپلو مربوطه
چارو کښی پر مخ نه ځې او
فعالیت نلری لکه دډنډ او به ځای
پر ځای ولاړ او دمجری او حرکت
خواوې پر تړلی وی یوې خوانه
هم مخه نه کاږی دا ځکه چه
د دوی نقطهٔ نظر ډېرووړ وی
دخپلی ارتقاء داوج ارتفاع ئې
کښته نیولې وی چه هغه فقط
فردی منافع او د شخصی ژوند
رونق وی چه داور حاصل شی
گویا دی خپل ځان اعلی مرام
او لوړ معراج ته رسیدلی بولې .
دداسی افرادو وجود جوامعو ته
کومه گټه نشی رسولای، بلکه
ددوې دااحساس (هیله) پخپله
ددوې دپاره هم په ضرر تمامیږی
ځکه چه هیله دپست او کښته
فطرت نخښه او دپښتو په ضرب المثل
کښې «توزنه» بلل شویده او په
محاوره کښې ویل کیږی :
«توزنه هیله دخدای له کرمه
وتلې ده» هو ! توزنه هیله خو
د کښته همت او پست فطرت
نتیجه ده په هرچا کښې چه دا شعور
موجود وی هغه د حقیقی عالی
مرامه څخه محروم او د فکری
او دماغی انکشاف ورئې په
وړاندی تړلی وې دتحقیق ښکلی
دنیا ته نشی رسېدلای او نه هغی
د خوښۍ او نشاط اسمان ته (چه
نتیجه او محصول ئی ابدی ژوند
او دشهرته څخه ډك نوم او نښان
او دبشر دپاره دسعادت او راحت
دو سایلو تهیه او تقدیم وی)
ختلای شی .

ملی آهنگ

اوس پوی شوم

په مخ چه دی د حسن پسرلی راغلی دی
گوگل ته‌می د مینی بزغلی راغلی دی

د زلفو هره غوږ که دی دعطرو غوټی سپړی
بی وارمی ځکه خولی ته هر کلی راغلی دی

زړگی چه می له ډېری خوشالی وهی توپونه
ریبا رئی له دز باره بر یالی راغلی دی

ساقی پیمانه څه چه میخانه ورته پسخیږی
نظر ته می نن هغه کنډ ولی راغلی دی

سیلا به ! چه قبول دې سرد دار په افتخار که
اوس پوی شوم چه په عشق کښی دې پخلی راغلی دی

دمظلوم له خوانه

ممنون باغوانیو ال

د عربی دارالعلوم نه

شاعر ته

کله چه سپین مخ داشنا ووینی! نلری امکان چه دنیا ووینی!

ته دسپینو لیچو سور بیزوان مین ته ئی دشین خال او زنخدان مین

ته د تورو وروځو د مژگان مین ته ئی د خپل خیال په شبستان مین

لاړ شی تخیل کښی بیدیا ووینی!

کوم چه دپاولیو شرنگا واوری شی په شوراوزوز چه داغوغاواوری

کله دی شته غوږ چه ته ژړا واوری خوښ ئی چه نغمی ددلرباواوری

کاشکی دژوندون سینما ووینی!

ته ئی د سرو شونډو د صهبا مین ته ئی د موسکا او د خندا مین

ته د سپین غاښونو په بریښنا مین خدا یږوئی د نازاوله ادا مین

کله زخمی زړه به د چا ووینی!

تا ته د یتیم مظلومیت څه دی؟ تا ته د بیوزلو شکایت څه دی؟

تا ته هو د فقر حکایت څه دی؟ تا سره مفهوم د محبت څه دی؟

هیله کړم چه حق اورښتیا ووینی!

کله تخیل کښی کهکشان ته ځی؟ هیره دی بیدیا شی گلستان ته ځی؟

مست شی صومعی نه بیامغان ته ځی؟ پریږدی حقیقت وهم او گمان ته ځی؟

خوښ ئی چه ځان عشق کښی رسوا ووینی!

ته لکه بلبل مست ئی نغمو سره زمستی وریت شوی اندیښنو سره

تا دماغ سرشار ښکلو غنچو سره زه لاس او گریوان دیاس اعزو سره

وینه دی شی سره چه حنا ووینی

ای دژیړی ماځیګر وروستی وړانګی!

هغه وخت چه ته دنور دجهان
پرخوا سفرته چمتو کیږی او
زمونږ تیاره دنیا ګۍ د..ساعتو نو
دپاره پریږدي زما یو وړو کی
سلام هم در سره یوسه !

یوسه دا سلام او دهغه چا له خوا
چه دڅو محدودو محبتو نو په جال
کښې بندپاته شوی دی ....

دهغه له خوا چه دیو دوو
ما شو مانو طفلا نه حرکتونه
دده د بندی توب هغه پټی
اشا رې دی کومی چه د یوه
مجرم دابدی بند دپاره دعدالت
دخاوندانو په منځ کښې دایما
په ډول وشی او دایما او اشارې
یوازینی مطلب ئې په خپلو کښې
د مجرم د ابدی بند صدوروی
نه بل شی .

د هغه له خوا چه د یو څو
محمدودو عنعنو او دودونو سره
چار او نا چار د ست او ګریبان
دی او خلا صیدل ور ته خپله
هغه وروستې کتنه ښکاری چه
ددوستانو دآخر نۍ و داع
دپاره ئی کوی نه د بل مطلب
او مقصد دپاره، دهغه له خوا چه
دڅو مخصوصو نومو نو د عزت،
شهرت او دولت په نا مه په ده
لوبی شوی وی او وروسته دی
داټول شیان خپل دآنی تیرو تلو
عوامل بولی نه یو حقیقی هدف او نتیجه

د هغه له خوا چه د یو څو
متعد دو لذتو حصول دڅه مدې
دپاره په د. دژوند سړې او
تودې ګاللی وی مګر دېرژرو همدې
نقطی ته ملتفت شوی وی چه دا
ډول لذتونه او خوندونه دډېر و
دردونو موجب دی او دیوې
ګړۍ ګریوان ته سرځړو لونه
وروسته .

د هغه له خواچه اوس دژوند
هرې برخې ته محضی دیوه ساعت
ژوند تیر و لو په نظر ګوری
نه داچه ژوند همدغه برخه بولی

د هغه له خوا چه د ژوند هر
همراز د یوه ډول شخصی
استفادې خاوند بولی نه داچه
دیو ډول صفا او صدق د جذبی
په تحت کښی اقلا یوه اشاره
او یو حرکت هم ور ته وکړی
نواې زما د دنیا ګۍ مسافری
وړانګی یوسه او زما داوړو کی
سلام او دنور او صفا هغه وړانګو ته
چه هر سهار دیوه مړاوی ګل
پرپاڼو په هغه شان غوړیږی
لکه دیوه شاهی باغ د ګل خانی
پر ګل چه خپل نور نوازی کوی
په هغو وړانګو چه دیوه خوار
غریب په نړېدلی کوډله په هغه
شان رڼا اچوی لکه دیوه ښاد
او ډېر خوښ پرمانۍ چه خپل
وزرونه غوړوی .

یوسه او د هغه انسان له خواچه
د زړه په تب و تاب کښی ستا د
هر طپش او نا ارامۍ د مقصد
څو ډوله ترجمانی کوی . . . .

یوسه او تش سلام د هغه بی
بسه چه همدې دنیا ګۍ ته په تش
لاس راغلی دی او تش به بیرته ځی
یوسه سلام .

اې د نور او صفا مسافری
قاصدی

ژواک

ایکونکی: استاد محمود علی خان

څرنګه پاتلی پترا پیدا شو؟

(افسانوی قصه)

(پاتلی پترا) ښار له میلادنه څلور قرنه مخکښې د مور یا امپیراطورۍ ځای ؤ او دا ښار د دنیا له ټولو ښارونو نه لوی او ښکلی ښار ؤ او کوچیانو د مشرق نه مغرب ته د دغه ښار د عبادت ځایونو د ښکلا او د ښکلو ماڼیو د لوړوالی، او د هغو لارو او سړکونو چه د لوړوونو په سیورو باندی پټ ؤ، خبری وړ لې او د دغه ښار یادونه به ئی کوله.

پاتلی پترا د ګنګا او سون د نهرونو د یو ځای کېدلو ځای سره هغه ښار سره نژدې اوس په «پټنه» سره یاد یږی جوړ شوی ؤ، نه میله ئې اوږدوالی او دوه نیم میله ئې سور ؤ او چاپیره ترینه دلر ګیو کلکه او ښکلی کلا تاووه او په دغه کلا کښې دې ښار ته څلور شپېته دروازی وی او پنځه سوه او شپېته برجونه ئې درلودل چاپېر ترینه یو لوی ژور او سورور خندق کینو دل شوی ؤ چه د سون د نهر په او بوبه ډکېده، او په دې کلا کې د پاچا د پاره دلر ګیو نه یوه ډېره ښکلی ماڼۍ جوړه شوی وه.

په تاریخوونو کې د دی ښار د تاسیس د تفاصیلو په متعلق کوم تاریخ نشته او کوم چه دې هغه هم کم دی، ځکه چه په پخوانیو کتابونو او دینی سپارو کښې د دې ښار په متعلق بې له نوم څخه نور څه نه مومو، او هر څه چه مونږ ته د دې ښار په شا او خوا کښې را رسیدلی دی هغه صرف د پخوانیو سیاحانو چه شام او روم او نورو ځایونو ته به تلل، یادونې دې،

هغه افسانوی کیسی چه زامنو له پلارانو نه په دی موضوع کښې ویلی دې، ډېری دی، په دغو کیسو کښې خوندوره کیسه د دغه ښار د اول جوړېدو کیسه ده، اګر که دا کیسه کوم تاریخی اساس نه لری خوله دې امله چه یوه د ساعت تېرۍ کیسه ده، مینی او ښائست په کښې پوره رول لوبولی دې نو که یاده ئی کړو باك نه لری، هغه داده:

پترا پاچا به د «ویندیا» پر غرونو باندی پورته کېده غونډۍ ګانې به ئې د پښتو لاندې کولې، لوړې ژورې به ئې سره د بې هیلې زړه او پرېکړی امید، وهلې، او دا ځکه چه ظالمانو ترونو ئې دی، له خپل مورو ثی مملکت او ګران وطن نه شړلی ؤ،

دې په همدې سر کوته ګرځېدو کښې ؤ چه د دوو عفریتانو (بد مخو) زوږ ئې تر غوږه شو چه د دغو دواړو سره په خپل منځ کښې جګړه وه، او دا جګړه ئې پر درو بېکاره شیانو وه چه یو «پڼې وې بل کچکول او بله امساوه.

نو پاچا ورنژدې شو ورته ئې وویل: تاسو ولې

په‌داسې شیانو سره‌وژنی‌ءچه نه
کم یافته‌دی‌او نه کوم‌لوړ قیمت
لری، دپاچا زړه ؤ چه‌د دوی
په منځ کښی سوله وکړی
ځکه چه دده سوله خوښه وه
اوجنګ ئې ښه نه‌ایسیده. نو یو
وویل: داپڼې او کچکول او امسا
یولوی هولناك سحری اثرلری
چه داشیان‌چاسره وی نو لوی
جادو کولای شی، څوك چه
دا پڼې په‌پښو کړی نوهرچرته
جه وغواړی‌والوزی‌الوتلای‌شی
چه هرچرته ئې‌خوښه‌وی تلای
شی، او کچکول چه‌سړی وزی
شی او دخوراك څیزونه
نه پیدا کیږی هرډول خوراك
ورته تیاروی، او امساد قضاء قلم
دی نو که‌څوك هرڅو مره لوی
مقصد او امیدلری‌چه‌په‌دې
امسا ئې پر زمکه باندی
ولیکې چه‌څرنګه ئې دلیکلو نه
اوزګار شی، هغه بیا حاصل
شوی‌وی.

نوپاچا داخبره چه عفریت
کوله په‌ډېره مینه او غور
واورېدله‌او ځان‌سره‌ئې‌وویل: که
داشیان په‌اسانی‌لاس ته‌راغلل
نوټول کارونه به‌مې اسان‌شی،
پاچاهی اوعزت به‌مې بېرته په
لاس‌راشی. نوبیائې ترینه‌پوښتنه
وکړه چه: ددې شیانو اصل
خاوندڅوك دی؟

هغووویل: مونږدواړه‌ورونه
یو، اودارا ته لنیلارنه میراث
پاته، شوی دی، بیاده‌ورته‌وویل
چه: سوله سره‌وکړیء او هغه
دې داشیان واخلی‌چه حق ئې
لری اوجګړه خوشې ګټه نه
لری اونه پرې دحق خاوند
معلومیږی، نو که ستاسوخوښه
وی‌زه به موسره‌داجګړه‌پرېکړم.
هغودواړو وویل: ښه‌ده کنه‌چه
تاته‌خدای‌حکمت‌او فصل‌الخطاب
درکړی دی، نودهغه‌پربنا
زمونږ په منځ کښې حکم‌وکړه.

نوپاچاوویل: هغه ځانګړې
غونډۍ ته‌تاسو دواړه مسابقه
وکړیء یعنی‌وځغلیء څوك
چه غونډۍ ته‌ورسېده‌او بېرته
مانه ژراغی
نو ددې جوائزو حق به دهغه
وی: څنګه چه هغو دواړو
منډه کړه ده‌پڼې په‌پښتو کړی،
کچکول او امسا ئې له ځان
سره واخیستل واولوت، له
سترګونه په هواء کښې پنا
اوالونیا شو، دی په همدی
الوتو کښې مخ په وړاندې ته
چه‌په‌یوه‌شنه‌اباده زمکه‌رابرابر
شو چه سپین سپین لوړ لوړ
کورونه، لوئې لوړې برجورې
کلاګانې، ښکلې لوړې ګمبتې
ئې په شینوالی کښی ځلېدلې
اوپه منځ کښې ئې یوه ویاله
په ډېر زور سره بهیدله، له هوا
نه سړی ته‌داسې برېښېدله لکه
چه دسپینو زرو مزی چادشنه
سندوس په پرش باندی تېر
کړی وی.

نوپترا پاچا په‌یوه‌غونډۍ باندی
باندې راکوز شو چه ګوری
دیوی زړی بوډۍ کور ئې په
یوه لوړه غونډۍ باندی ولیده
نو پترادغه کورته ورغی او
دروازهٔ ئې وروټکوله نو یوه
زړه ښځه راووتله او دده ئې
داسی هرکلی وکړ لکه چه
څوك دیو ډېر ګران مېلمه
هرکلی کوی، نو پاچا ورته
یودینار ورکړ اوور څخه ئې
وعوښتل چه‌دڅه مودې دیاره
ورته داوسېدلو ځای‌ورکړی
هیله شته چه خدای به ئې یوه
جاره‌وکړی، هغې ئې داغوښته
قبوله کړه.

اودی ورسره اوسېده ترڅو
چه دوبی راغی اود گرمۍ زور
زیات شو ، گرمی وه چه مخو نه
ئې سوزول ، تیږی ئی و یلی
کولی ، هغه وروستی پاته شوی
گلان او پاڼی ئې هم په بڼو نو
کښی لو لپه کړل ، بیا منی
راغی چه و نی ئې له پاڼو نه
لوڅی کړی اوزړو نه ئې دخوښۍ نه
بیا ژ می خپل سوړ لاس
پرځمکه باندی اوږ د کړنو په
زمکه کښې چه څه ژوی اوشنیلی وو
هغه ئې تر ینه ټول ټول کړل
او دده له ډاره دغرونو سرو نه
په سپینو واورو باندی سپین
شول ، یخنی زیاته شوه ، یخنی
څه وه چه لاړی (ناړی) به ئې
په وښکیو کښې کنګرك کولی
اواوښکی په زیږمو کښی ، بیا
پسرلی وخندل اوز مکې ته ئې
د سندس نوی شنه جامه ور
واغوستله ، نوو نوپاڼې و کړی
اوغوټۍ وغوړېدلی .

پترا پاچا دپسرلی په راتللو
باندی خوشاله شو ، خوږ ړه ئې
همیشه غمجن اوخپه ؤ ، اودپسرلی
ښکلو منظرو او خوږو بوبو نو
ئې په زړه کښی ښه ځای نه
نیوه ، ځکه چه ده غو ښتل چه
بودیوا ځېوالی ملګری ئې وی
اودده سره په سفر کښی ملګری
و کړی .

بوډۍ له خپل زراکت
نه د ده د زړه په راز پوهه
شوه او ورته ئې و ویل
بچیه ! زه ګمان کوم لکه چه ته
دژوندیوه ښکلی ملګرې غواړې
چه خپلی شپی ورسره تیری کړی
اودازړه رازونه ورته ووائی
نو که غواړی زمونږ دپاچا یوه
لورده چه په خپلو امزولو کښی
لکه سپوږمۍ په ستورو کښی
داسی ده او نوم ئی « پاتلی » دی .

په دی وخت کښی چه بوډۍ
ورته دپاچا دلور ښکلا ستا یله
نا څاپه ئی دمینی په اور زړه جل
بل شو ، مخکښی دلیدونه پر
شاهزادګۍ باندی مین شو ، او
په ډیره نارامۍ ئی شپه دسبا
دراتلو په انتظار تیر وله ، کله
چه دسبا سپینوالی په افق باندی
وځلیده نو باچا هغه دجادو پڼی
په پښو کړی اود شاهزادګۍ
ماڼۍ ته ور والوته ، هلته ئی
د دروازې په مخکښی کښته
شو اوله هم هغه ځای نه ئی ددی
پوره ښکلا ته کتل ، په دغه
وخت کښی ددی دانګو سپین
والی داسی ؤ لکه چه د
همالایا پرغرونو باندی سپینه
سپېڅلی واوره ځلیږی ، او د
سبا دشفق دسور والی انعکاس
چه ددی پرمخ باندی لویدلی ؤ
نو رئی هم ددی دمخ رونق او
قیمت زیات کړی ؤ ، ګویا
دښکلا په منظره کښی داسی وه
لکه چه شاعر وائی :

خطرت ، فقلت قضيب بان حركت اعطافه بعد الجنوب صباء

چه را ولاړه شوه نوما وویل چه دبان ونه ده چه منډان ئی وروسته دجنوب د باد نه دسبا بادخوزوی .

ودنت ، فقلت غزالة مذعورة قدراعها وسط الفلاة بلاء

اوچه رانژدی شوه ، نوما وویل چه ترهندو کی کبلی ده چه بلائی دډاك په منځ کښی پیا یی .

وبدت ، فقلت البدر ليلة تمه قد قلدته نجومها الجوزاء

اوچه را ښکاره شوه ، نود څو ار لسم سپوږمۍ وه چه جوزاء ورته خپل ستوری غاړ کۍ کړی وو .

بسمت ، فلاح ضياء لوء لوء ثغرها فيه لداء العاشقين شفاء

چه وئی خندل ، نود غاښو نو ملغلری ئی وځلیدلې چه دمینانو درنځ دارو په کښی ؤ

سجدت تعظيم ربها فتمايلت لجلالها اربابنا العظماء

چه دخپل رب دتعظیم دپاره ئی سجده وکړه ، نوزمونږ لویان دجلال اولویۍ دپاره ورته کاږه شول .

بیانو پاچا ورغږ کړ .

هغه تر هنده له خوبه را بیداره ، شوه چه گورې په مخکښی ئې یو ځوان ولاړ دی چه دساحرانه حسن او ښکلا خاوند دی ، نو ترهغې ئې ورته کتل چه دده د محبت او مینې غشې ئې پرزړه وخوړ بیا ئې ترینه پوښتنه وکړه چه ته څوك یې؟ او څنګه زما ماڼۍ ته راغلی یې چه هیڅوك دازړه نه لری چه ورته راننو ځی ؟

ځونوان ورته خپله کیسه ترسره کړه چه زه شاهزاده وم او د خپلې پاچاهۍ نه وشړل شوم او په لوړو ژورو او وچوډاګونو کښې څه موده سرکوته وګرځېدم ، بیا له نیکه مرغه داشیان په لاس راغلل چه سحری اثر لری او دلته چه راغلی یم نوددې ، پڼو دپښو کولو په ذریعه چه هغه هم یو له دعو د روشیانو څخه دی ، بیا نود شاهزادګۍ ورسره ډېره میلنه پیدا شوه او هر سبا به سره یو ځای کېدل ، او دا فکر او خبرې به ئې سره کولی چه دا خپل محبت او مینه به څنګه ددې پلار ته ښکاره کوو؟ او که په خپل مرام باندی مو بری وموند نو په څه کیف او خوند کښې به سره داد ژوند ګړۍ تېروو؟ ځکه چه رپتاته نه پاچاهی پاته شوی وه او نه ورته کومه پاچاهۍ ماڼۍ چه دوی به کښې خپلې شپې تېرې کړی وای ، او پاتلی ئې ملکه وای او ده ورسره دخوښۍ ژوند سرته رسولای وای .

دمحبت او مینې لاره ګرانه ده او ډېرې خطرې لری ، نو یوه ورځ له ورځونه وه چه دوی سره خبرې کولی او د مینې رازونه به ئې سره ویل چه دشاهزادګۍ خذمتګارې سره دوی دواړه ولیدل ، او پاچاته

دا حال و وایه . نوپاچاورته امرو کړ چه یوچل او حیله پیدا کړه چه دا ځوان و نیسو ! . نوخذمتګاره په یو ګوټ کښې پټه شوه ، هر کله چه پترا له پاتلي نه وداع کوله او دشپې خپل کورته ته نوخادمه وریسې راپورته شوه او دده پرچپن باندې ئې یوه سره علامه و کښله چه دی پرې پوه نه شو ، . سبا ته پولیسود کورو نوپه لټولو باندې پیل و کړ ترڅو چه ئې پترا دبوډۍ په کور کښې و موند او سره علامه ئې پرچپن کښلی شوی وه .

بیائې دپاچامانۍ ته یوړ او په محکمه کښې ئې د وزیر په مخکښې ودراوه ، نو وزیر ئې سمدلاسه په اعدام باندې حکم وکړ او وئې ویل چه (هغه څوك چه دپاچا په لور باندې مینیږی ، بې له مرګ نه ئې بل عذاب او سزا نه شته) نوپه دې وخت کښې پترا وزیر ته وویل : چه مهربانی وکړه دومره خو مې پرېږده چه په کور کښې مې یوه بوډۍ مورده چه دهغې سره خو وداع وکړم ځکه چه بیا خو سره نه شو کتلای ، نووزیر ئې داسوال قبول کړ او خوشی ئې کړ چه کورته ولاړشی عسکر ئې ملګری ورسره ولیږل ، هلته چه لاړل عسکر په دروازو کښې او درېدل او پترا کورته ننووت ، هلته ئې خپلې پڼې په پښو کړې او کچکول او امسائې دځان سره واخیستل ولاړ ، دشازادګۍ دمانۍ په خوا وروالو ته .

کوټی ته ئې ورننووت چه ګوری شاهزادګۍ په ډېره ترخه ژړا ژړای ځکه چه دخپل مین داعدام حکم ئې اورېدلای ؤ . کله چه دی خپل مین ځان ته ولاړ ولېده نو ګمان ئې وکړ چه دا ګوندی خپل خیال راته زمامین مجسم کړی دی ، په دې عالم مایوسی کښې پترا ورغږ کړ او ورته ئې وویل : مینې ! زر کوه وخت مه ضائع کوه راځه چه وو زو او له دی ځایه واولو زو چه هر چرته موخوښه وه هلته به زو بیائې له لاسه ونیونه او خپلې پڼې ئې په پښو کړی دځان سره ئې والوزوله ډېر عرونه لوړی ژوری ئې ووهلې چه په پای کښې په پو پراخ میدان کښې کښته شول او داسی وږی شوی وو چه نوره نوپرې تمامه وه نو کچکول ئې راوخیست خو اږه او خوندور طعامونه په کښې پراته وو ترهغې ئې خواړه چه ماړه شوو ، . هر کله چه پاتلی دامسا داثراتونه خبره شوه نوپترا ته ئې وویل چه : دا به څنګه شی چه ژوندبه کوو او نه به موپاچاهی وی او نه دوسېدلو کوم ښار جه په کښې ووسېږو ! پترا ته ئې امرو کړ چه په دی امسا باندی یو ښار پرزمکه باندی رسم کړه چه سړ کونه ، کوټې ، بازارونه و یالی ، جوماماتونه ، مانۍ ګانی ، لښکری ، اسونه ، فیلان ئې ورسره وی ، نوهغه پیل وکړ ، هر کله چه دښار درسم کولونه خلاص شو ، نو زمکه په بله واوښته ، شګې سره پورته کښته شولې ، وروسته له څه ساعته ، ګرد او دوړی کښېناستلی او له هرڅه نه ډك یوښار پیدا شو چه لوړې لوړی مانۍ ګانی ئې درلودې دخلکو نه ډك ؤ پراخی لاری ، ښائسته بازارونه او نور لوازم ئې پوره په کښې وو ، دوی بیا دا ښار په خپلونو مونو باندی وبا له او (پاتلی پترا) ئې نوم شو . داوه د «پاتلی پترا» د ښکلی ښار نشأت او پیدا یښت کیسه چه د هند په پخوانی تاریخ کښې په پورتنی ډول یاده شوی .

ښاغلی عبد الله غمخور

دکنړ دشنو بڼو نو یو خوږ ژبی طوطی

له چغاره پریوت

تاسې څه گومان کوی ءچه
دابه کوم دولت من وی نه دهغه
غم نه ژاړم دهغه غم پخوا دولت
خوړلی دی ، خان ملك به وی نه
دهغوی دیادولو نه داڅه چه خپل
خپلوان او د کور کلی خلك
ترې هم ماړه دی شیخ پیر ماذون
به وی نه هغوی خوهسی خدائی
بخښلی دی او بلائی ور که ده
زمازړه په بل چادر د کړی دی
او سویدی او بل څوك یادوم
چه هغه یو خوږ ژبی طوطی دی
چه دنورو طوطیانو سره ډیر تو پیر
اری دغه طوطی به دنورو پشان
دبلوری کټولی د خوږو او بو
به څکلو پسی هڅه نکوله دخپلو
اوښکو به زم زم به ئی همیشه
دزړه تاو سړاوه او تنده به ئی پری
مالتوله دته خدائی مړی ستر گی
ور کړی وی د طلا یی پنجری
به مالیدو چغزیو او نورو خوږو
پسی به ئی دملگرو پشان زړه

نه پخسیده او دپنجری دخوږو پستو
خورا کونو دڅکی دیاره ئی خپل
شاپرونه دبیا تی خولې له نه وو
ور کړی ، طوطی ومگر دجېټی
په سرئی دچا دپاره دلار یو نه
دپیسو ټولولو کارته لکه چه
نور طوطیان ئی کوی غاړه نوه
اینبودلی دفرمایشی چغار نه ئی
ډیره ډډه کوله او دحلوا یی په
دوکان هیچانه ولیدلی دزړه
خوراك دده روزی وه او دیو چا په
یادو به ئی قوت کاوه تاسی به
وایی چه دابه د کوم بڼ طوطی وی
د کومی سر دری مارغه ، او په
کوم بوټی کښی به ئی ځاله وی
تلوسه مونه زیاته وم دادا سمار
دعلاقی ، دشال نومی کلی یو
لولپه په زړه زخمی شاعر دی او نوم ئی
عبدالغفار دی دته خدا ئی دسوزو
گدازه ډکه سینه ، دعشق او
محبت له شرابو یو پیمانه زړ گوټی
دلیو نی مینی دشورو عو عاته

ډك سر دا باسیند له څپو مسته
شاعری ور کړی وه کوم و خت چه
دده دشعر سمندر موج وواهه نو دده
دسوزیدلو او تارو هره خوا غله
بلی جوړ کړی انگازی ئی خپری
شوی دبڼونو خاموشی پری ماته
شوه دځلمو او پیغلو دپاره دمین تابه
ژبی شوی او په حجر و او
دیرو کښی ئی دریاب او منگی
زړه یارانه نوی کړه په کنړ
باجوړ ، دیر ، جندول او صوات
کښی دده دخوږو غزلو چار بیتو
یو درز پریوت او دادی چه اوس
په دغو ځایو کښی سندر غاړی
دده د اشعارو په مصرو د خلکو
زړونه قلم قلم وړی ولی دافسوس
تکی خو دادی څو مره چه دده شاعری
په خلکو گرانه شوه او دزړه په
کور کښی ئی ځای ونیو وهغه موده
دده ژوند په بی وزلی کښی تیر
شو او یو فدر دان داسی پیدا
نشو چه دی به ئی کله په خوا

پوری نیولی وی اودده دزړه ښه
به پری شوی وای هغه دلیو نی
فلسفی خبره .
اوپه تشواوبوشاعری گرانه ده
، چه تاو د اورنه وی زرگری
گرانه ده ولی عبدالغفار بی له
زړه ددولته چه یوه داشنا مینه
ورسره وه نورڅه ئی نه لرل خالی
په یو کلی ځمکه ناست وو بیاهم
دیونا کراره احساس له برکته
ئی په تشواوبو شاعری کوله او
دزړه په تاوی دماهرویانو دتیك

لونگین په جوړولو کښی قیامتونه
کوځول تیر کال، دده دشاعری
په باب په کابل مجله کښې یو
اوزد مضمون خپور کړیدی چه
نورڅه لیکل را ته تکرار ښکاری
ولی دده په حقله به یوه نوی خبره
وکړم دهغه توتی چه د زړونو
باغ اوبن به دده په چغهار دولولو
نه ډك وو اوپه سر درو کښی به
ئی دخوږو نغموانگازی تاوراتاو
کیدی . لږه موده کیږی چه
دمرگی بازپه منگل کښی یو ور

او اوس ئی خوږ چغهار نه اوریدل
کیږی .
مایه ډیر کوښښ او پلټنه
دنوموړی شاعر دوه چار بیتی
اوبوه شکایت نامه ، شعرونه
لاس ته راوستلی دی .
چه گرانو لو ستونکوته ئی
وړاندی کوم . باورمی دی چه
که ئی د مینی لیونیان اودزړونو
خاوندان ولولی داتولی خبری
به ئی زړه ته پریوځی .
(اودنوموړی شاعر مرگی ته
به ادبی ضیاع وو ایی) .

سید عبدالغفار

د فلك نه شكايت

د فلك دلاسه ژاړم په كو كاريم — هم حيران د زمانی په كار وباريم
چه يو دم مي ولی نه پرېږدی بی غمه — هر ساعت دده دلاسه نا كراريم
ماخوندی څوك هيڅ چيری آزار كړی — زه آزار په بدله د كوم آزاريم
لكه مړی چه جدا شی له خپلوانو — داسی زه دپر دو خپلو نه بيزاريم
په همځولو كښی ئی سپك لكه وزر كړم — په وطن كښی بی عزته بی وقاريم
هر سړی رانه جامی خپلی را نغاړی — لكه زه چه لوی مرض كښی گرفتاريم
چه دچا مجلس ته ور شم رانه پاڅی — فكروړی دمخلوق په دغه كاريم
نه څه تمه نه اميدمی له چا كيږی — نه دچا نه دڅه را كړو اميدواريم
كوم سبب دی چه ئی سپك راځم له ستر گو — په كوم كارور ته دخاورو په مقداريم
كه هر څو اخير له خاورونه پيدا يم — بيا خو ياد په كرمناد كردگاريم
خير دی ما ته نقصانونه خپل معلوم شو — اول دا چه دولت نه لرم نستگاريم
نه مې چرگ نه مې غوړی نه مې ډوډۍ شته — دا په څه چه لاس مې تنگ دی عيالداريم
زما نه د يار اشنا لاسو ته گوری — چه په لاس كښی مې څه نشته گناه گاريم
دويم دا چه دځوانۍ ډول مې تلی — غاښ و تلی ږيره سپينه شرمساريم
هيڅ خبره مې له خولی نه وځی روغه — كه هر څو لكه طوطی شكر گفتاريم
بد نيتی مې عادت ندی له طفلۍ نه — بی مقامه نه كړيږم په قلاريم
هم خيرن څيری جامی پښی ببله گرځم — هيڅ مې ځان ته فكر نه دی نه وزگاريم
اقتصاد ميانه تگ عادت زما دی — نه مسرف نه خان رئيس نه دوكانداريم
خوار غريب يم بی قوته بی طاقته — دوست دهر سړی دوسی په مقداريم
كه طلب دمشورت رانه چا وكړ — مطمئن په هغه كار كښی مستشاريم
كه چا سوال رانه ونه كړ ساكت خوښ يم — په روغ سر داغو نه نه ږدم نه بيماريم
په سكوت كښی مې فايده ده ددارينو — ښه پوهيږم ليونی نه يم هوښياريم
په ساكت د ملا ئيكو قلم نشته — په ساكته خوله گويا مشك تاتاريم
عمر تلی نور مې ور ځی ډيری نشته — خدای خبر دی چه به څو ورځی ايساريم
دی فلك چه څه كول هغه ئی وكړ — كه نور هم را باندی كړی ور ته تياريم

نور دی صبر وی زما دده په سختو
زه خاكی (عبدالغفار) ئی تابعداريم

چاربیته

عیسی و پیغمبر * استا ځی د ا کبر * حا ضر په ا دیره شو د ز اره قبر په څنګ
د یر ه و یو ملنګ

عیسی وویل ای ځوانه *تپوس کوم له تانه* ته څوك ئی را ته وایه دی مکان له راغلي کله
دي ځائی کښی ناست ئی څله

سړی ویل پیغمبره* قیصه کوم له سره *یو زه یوه مي ښځه مو نبز ه کړ ی مصلحت
همد ا سي حکا یت

ما ؤویلی جینی * کم عقلي لیونی* اول ګوره که زه مړ شوم کوه را ته کو نتو ن
چه څودي وی ژوندو ن

دي وویلی هوښیاره*زما دمینی یاره* اول ګوره که زه مړه شوم چه بل و نکړي کو ر
دیر ه مي شه په ګور

چه مونبز کړي وعده وه*بلا شوي موده وه*داشوله رانه مخ کښی اوس ئی ناست یمه په قبر
په خا ور و کوم صبر

زمونبز مینه وه زیاته * معلومه وه هرچاته * لوځونه موسره و کړه په ژوند ینی یو تر بله
همداسی مو ویله

بي مثله ښایسته وه * په حسن آراسته وه * سپین مخ ئی ځلیده رڼائی و ه لکه د نمر
عیسی و پیغمبر

داوه په نو م ماهتابه *ښایسته وه له افتابه*سری شوندي سپینه خوله ئی بیلوری پیاله د ښنګ
د یر ه ویو ملنګ

عیسی وویل ځلمیه * کم عقله لیونیه* ورځه بي غمه کورته دغه ستا خوشي خوا ریده
د مړ و څه یاریده

فقیر ویل ځای مي دادی *قسم خوړلی مادی*دمر که پوري شپي ورځي به دلي کړمه تیر ی
که لبزي وي که ډیر ي

عیسی وو یل رښتینی * مین په ناز نینی* داتلی عمر تلی پاتي که ور سره قسمت
که ډیر دي و ي حا جت

که و کړمه دعازه * په حکم دمولازه * دا ښځه به ژوندی شی بیا به ځی کور ته خوشحاله
څښتن ار تینه دو اره

فقیر وویل رسوله* دخدای په در قبوله * داتلی عمر تلی پاتې ما کړ ور سره نیم
ور ځه یاد کړه رحیم

عیسی وویل خدایه *دخلکو رهنمایه * داښځه کړې ژوندی چه دواړه ځی کور ته خوشحاله
څښتن ار تینه دواړه

دا ستا بنده فقیر دی * په قبر ناست زهیر دی* دعمر کړه مند دی تا ته ژاړی روز و شب
حاصل ئی کړه مطلب

قبو له ئی دعا شوه * حاصله ئی مدعا شوه * دا قبر شو دوه ځایه ښځه ترې اوو ته بهر
عیسی و پیغمبر

دوی شو غاړه په غاړه *څښتن ار تینه دواړه*چه څه ئی بیر ته پام کړ عیسی نه و هغه د رنگ
د یره و یو ملنگ

دی ښځی ویل څښتنه *دعمر کړه منه *راځه چه کور ته لاړ شو څه کوو په ادیره کښی
په دې خوشې ځیره کښی

فقیر وویل نگارې * دم و کړه ناقلارې * ما کړې شو گیرې دې چه او ده شمه په نیاز
ور نونه دې کړه ساز

ور نونه ئی کړ سم* ویده شو هغه دم * نا گاه یو شهزاده هلته راپیښ کړ کرد گار
و تلی و په ښکار

له ورائی ولیدله * چه ناسته وه بلبله * ورووروئی خواله راغی نو تری و ئی کړ پر سان
حال دې که را ته بیان

شهزاده وویل داڅوك دی*راغلی له کوم توك دی* بې غمه دې په غیږ کښی په ور نو نو کوی خواب
ترې نه دې شته حجاب

دې وویلې داغل دی *همیش راسره مل دی* دې زه یم راوستلې په تگی د خپل مکا نه
خبر نه یم له ځا نه

مین پرې شهزاده شو * په مینه ئی الوده شو * داهم شوه پرې مینه دواړو جوړ سره چل ول کړ
فقیر ئی منځ کښې غل کړ

دائی کړله ترې روانه * خوشحاله وو بې شانه * فقیر غریب ئی پریښو دهیڅ په ځان نه و خبر
عیسی و پیغمبر

سوره ئی کړه په آس * په خندا او په هوس * په مخ کښی ئی وهل شو سرو دوند رنگارنگ
دیره و یو ملنگ

راپاڅید هغه ځوان * خوارپاتې اك حیران * ترې ور که معشوقه شوه گرځیده به غره په سمه ژړل به ئی له غمه ،

دی وگرځید چا پیر * دغره ترسمه ډیر * ناگاه ئی ولیدل سواره په لیرې یو مکان فقیر شو ور روان ،

لښکر ته شو حاضر * په زړه باندې زهیر * لید له ئی ار تینه په شهزاده پسی سوره وه پرې شوې مسخره وه

فقیر ویلې ظالمه * زما د سر غلیمه * داخپله نکاح ښکلی ته زما نه بیا بی چرې مومن ئی که کافر ئی ،

راپور ته شهزاده شو * فقیر ته په غوسه شو * داښځه داسې وایی چه په مائی کړی زوردی څښتن مې ندی چوردی

ددوی دواړو دعوه شوه * په ښځه ئی معمله شوه * ویل ورشی ءلاس تړلی ئی راکاږی ءپه تل وارې داغل دی وهی لاری ،

سوټ بوټ ئی دا فقیر کړ * کلك پك ئی په زنځیر کړ * چه ښار ته ئی کړ حاضر په لاس ئی ور کړ د کوتوال غوږ کیده وایم حال

شهزاده وویل پلاره * خبر شه له دی کاره * ماغل دې راوستلی ښکار له تلی وم سحر عیسی و پیغمبر

راوستې ئی جینۍ وه * راغلی په ځوانۍ وه * بې غمه ئی په ورنو نو خوب کوو لکه پالنگ دیره و یو ملنگ

سړی او ښځه سم * حضور شو هغه دم * پاچاؤ ویل ژرشی ءچه دا څه پیښ شوی حال دی دا څنگه قیل و قال دی ،

دې ښځې ویل باچا * زمونږ ه پیش پنا * داغل دی زه ئی وړې یم پخوا دپلار د کوره جوگی دی ور ته گوره ،

په غلا به گرځیده دی * له خلکو پټیده دی * دځمکې خوب ئی نه وما به غیږ کړه ور ته سمه ویده به شو بې غمه ،

پرون چه دی ویده شو * پیښ دغه شهزاده شو * په اس پسې سوره شومه راتلمه بې وسواسه خوبیا ترې نشوم خلاصه

فقیر وویل سلطانه * دادروغ وایی شیطانه * دولت مې دی ور کړی ما دپلاره ده غوښتلی زه ما دنکاح ښکلی ،

باچا وویل ځوانه * خبره دې شوه گرانه * ددواړو شریعت شو یو شاهد پرې تیر کړه باندی
ددی قاضی ترو ړاندی،
فقیر شو په خندا * شاهد لرم عیسی * سبا ددنمر په څیره به ئی دلته کړم حاضر
روان شو دا فقیر
دی ښځی ویل امیره * جوگی لاړو بې پیره * دعوائی پوچه لاړه نور ئی ځان کړ لرو بر
عیسی و پیغمبر
عیسی به چرته گوری * د کوم اسمان په سوری * همدغه ئی بانه ده ځان ئی کړله مرگه څنگ
دیره و یو ملنگ
فقیر غریب له واره * و تلی و له ښاره * بهر په هغه دښته کښی یوه و نه وه دوړاندی
ویده شو تری نه لاندی
عیسی په دی دستور * په خوب شوور حضور * ورځه په ماز پښین به ښار له در شمه سبا له
ډاډه لاړ شه خوشحاله
سبا شو ما ز پښین * عیسی نشو تیعن * فقیر غریب خپه شوغلی کیناسته ستو ماته
باچا وویل شیطانه
راغلی دی اجل دی * خولبز په کښی معطل دی * جوگی ئې په رښتنی ته کوی مکرو هنر
عیسی ؤ پیغمبر
ناڅا په و شو غبز * ښار کښی و شو ځوگ * عیسی حضور له راغی ددې ښځې زیړ شو رنگ
دیره و یو ملنگ
عیسی و ویل ښځې * کم عقلې بېتمیزې * در کړی امانت ددې سړې ور که دوبار
چه ځی په لو یه لار
دښځې داسی نیت ؤ * راغلی ئی شو میت و * دورخه تېرې شوې او به بیرته وتی نشی
زما په خولې به څه شی
درواخله امانت * که ستاوی څه دولت * همدغه ئی وینا وه نور دخاور وشوه ډیران
فقیر شو ترې روان
باچا وویل عیسی ته * دا حال ووایه ماته * دا څرنگ معامله وه تا چه پټه دا قیصه کړه
زما دې تلوه سه کړه
باچا او عیسی سم * ژر کیناست هغه دم * یو ساعت له ترې رخصت شو بیا عیسی علیه السلام
مجلس ئی کړ تمام
عیسی د دنیا کار که * په ښځو څه اتبار که * چه څو ئې لاس بریږی زور وی ښایسته ځوانان
پرې پوهیږی عاقلان
بې پټه محبوبان دی * په چپه لار وان دی * دخپلې رضا کار کړی څوک پری مه کوی ء باور
عیسی ؤ پیغمبر
سید عبد الغفاره * گل نشته بې له خاره * چه چرته معشوقه وی نه و فالری نه ننگ
دیره ؤ یو ملنگ

چاربیته

عربو کښې باچاؤ * په تیره زمانه کښې * رنځور شو دعمرو نورنګ ئې ؤخراب تراب

قیصه د ه د کتاب

دعمر شورنځور * په زړه باندې ناسور *ژړل به ئې له سوخته شپه اوور ځ په و ا و یلا ؤ

عربو کښې با چا و

ژړ ل به ئې همیش په شان له ددرویش * دردو نه ئې پیدا شو بې حسا به په سینه کښې

په تیره زمانه کښې

دردو نه شوپرې زور * له غمه شو نسکور * نا ګاه پرې برابر کړ حکیمان غنی وهاب

قیصه د ه د کتا ب

د یره چه حکیما ن شو * په غور دسلطان شو * مولا به ترې خبروی چه نظر په پر ې د چاؤ

عربو کښې با چا و

حکیم وو بل سرداره* که ته ئې غور داره* پیدا کړه یوسړی په داسې طو ر نښا نه کښې

په تیره زما نه کښې

که وی په کښې ستا نخښې *زمونږه شولی خوښې* هغه سړی حلال کړه ته ئې تریخی که جلاب

قیصه د ه د کتا ب

با چاوو کړ فرمان * خواره شو نو کران * یو ځوئی ؤد دهقان دده صفت په کښې پید ا ؤ

عر بو کښې با چا ؤ

چه ښار ته ئې حاضر کړ* تحویل ئې دامیر کړ * هلک شووار خطا تغیر شو په ګونه کښې

په تیره ز ما نه کښې

سبائی مور اوپلار * حاضر کړه په تلوار * دولت ئې ورله ور کړ نورئې هیڅ نه لاره تاب

قیصه د ه د کتاب

دولت ئې ور کړ ډیر * دوئې شوله ځو یه تیر * قوت دباچاهی ؤدنا کامه پرې رضاؤ.

عربو کښې با چا ؤ

نا کام هم داسې کار که * جدا له ځو یه پلار که * جدائی کړ له پلاره په چل ول او په بانه کښې
په تیره ز ما نه کښې
کشتن ته ئی حاضر کړ * بسته ئی په زنځیر کړ * دمرستې ځای نه ؤلاس ئی تینګ ؤ په تناب
قیصـــه ده د کـتـاب
له سوخته په خندا شو * په دی فکر سوداشو * پاچاوو یل هلکه څه عجب ولید تاو
عر بو کښې با چا ؤ
هلك وو یل سرداره * ژړا کوم له پلاره * په پنګه د دنیا مې خرڅوی ستا په چنه کښې
په تیر ه ز ما نه کښې
قاضی کړې قضا ده * ستا هم په دې رضا ده * مولادې زما مل شی دچا نه لرم جوا ب
قیصه ده د کـتا ب
هلك چه دا بیان * تمام کړ په دې شان * باچا په ژړا سرشو و ا ړه خلك په غو عا ؤ
عر بو کښې با چا ؤ
هلك ئی کړ آزاد * حاصل ئی شو مراد * غیبی داروئی وشو دمو لا یه خز انه کښې
په تیر ه ز ما نه کښې
سید عبدالغفاره * توبه کړه گناه گاره * اخیره ز ما نه ده چه روزی دې شی ثو ا ب
قیصه ده د کتا ب

داد چا د تو روز لفو په خیال هسی

نپو هېږم چه مدام پر اگنده یم

که له نازه راته سم نه گوری څه شو

زه «حنان» دې په کېږو کتو بنده یم

* * *

دا وستر گو ته دی چا و کړ تعلیم

چه تاراج ئې کړ زما دزړه اقلیم

تر الف دې قامت سم دی مشکین خطه

دو اړه زلفې دې کېږې دې لکه جیم

لام کوږ پر ېوت ستا د زلفو له پر توه

دبوسې خواست دې له خولې څخه که میم

په اندوه دخط دې سر د قلم چاك شو

تن دې زیاته صفا ئې لری تر سیم

چه خیال چېرته ستاد مخ د گلشن راشی

په کارنه راځی هر گز باغ دنعیم

پس له مر گه گذر قبر ته راو کړه

جمع کېږی می په تا عظم رمیم

«حنان» ستا له در دودو که په مرگ خوښ دی،

له احواله ئې خبر دی خدای علیم

* * *

چه نسبت داستاد حسن ز ما د تن کړم
ته شیرین خاندې زه آه د کوهکن کړم
له محنته د غربت که مړ شم ښائی
چه داستاله بدخوئی ترک دوطن کړم
ته که خال پرمخ لري زما پرزړه داغ دی
ما توې ته زلفې زه دي زړه شکن کړم
بوی د میو می له زخمه د سینې ځی
دمخمور وستر گو خیال چه زه غمجن کړم
پرسبزه که گل پیدا شی عجب نه ده
د عجب دسبزې د ید پر نسترن کړم
لکه زخم دناسور یاس مې حاصل شو
تسلی می د زړه نه کېږی شېون کړم
له حسرته ستا د زلفو معلو مېږی
زه «حنان» پرخپل ځان خاوری دختن کړم

* * *

د گلر خرد د یدن هوا خراب کړم
چه داهسې آرام نه یم اضطراب کړم
لکه و نیسی و ېښته د اور و تاب ته
پېچو تاب زلفوئې هسې پېچوتاب کړم
همېشه ئې د گلگون رخسار له شوقه
تماشې په هر نفس د گل گلاب کړم

په زنځېر د تو روزلفو ئې بندی کړم
حواله ئې بیا دستر گو په قصاب کړم
له خجلت سره شراب لکه او به شی
سره لبان چه مقابل دمیو ناب کړم
دزړه مرادمی له تا نه موند حیرا نېږم
چه هرڅه دا ستا ولور و ته شتاب کړم
دهجران په اورئې سوی زه «حنان» یم
له سوختنه تل ژړ الکه کباب کړم

* * *

ن

راشه و گوره زما پریشان احوال نن
خراب کړی یم داستاد زلفو خیال نن
داتور زاغ پر نامده گل باندې ښکار ېږی
که پر باندې ایښی دی هسی تور خال نن
دحیرت گوتې په غاښ کړه چه ئی ولید
ښا پیری د کوه قاف دا ستا جمال نن
خط دې وران کړ دا اقلیم دحسن هسی
که سور گل دی مرچگانو کړ پایمال نن
په سینه کښی مې هډونه ریز مریز شول
مومیا به را وړی څوك دیار د قال نن
په آزار دې زلفی نه دی پسی څه دی
دلړم په دود مهتاب نه کړی جنجال نن

نوی خیال دیارد خولی وایه «حنانه»
شنیده خبری مه نیسه پر فال نن

* * *

د عالم الفت بلا ده پر مجنون
له ازله داند اده پر مجنون
د چمن د گلو هیڅ پروا دار نه وی
چه گلشن دباغ صحرا ده پر مجنون
تنگدستی تحقیق مابه دلیو نتوب ده
عریانی سکښتی قبا ده پر مجنون
خلاص د دهر له جنجال له هم په دا دی
د صحرا بوتی قلا ده پر مجنون
د جنون داغ سلیمان نگین نیولی
له وحشیو څه غوغا ده پر مجنون
آبادی که څه د کفر څه د دین ده
خرابي ئې بی پروا ده پر مجنون
دا جامه پر هوښیار زیب نه که «حنانه»
ستا ویل جوړه انشاده پر مجنون

* * *

کوم شوخ بیاوتلی دی هسی په ښکارنن
داچه ورك مې په آهو نودی قرار نن

په‌ر کلب مې ګمان شو د پیری ستر ګی
چه‌لیده نشو له تیزۍ د آس رفتار نن
غوڅ په‌تیغ د کوم قاتل یم بسمل طوره
چه‌سجده کوم په وینو کښې زه خوار نن
په‌امید چه یوه ورځ به ګلرخ راشی
په ګلشن کښی لمر کړ خپل ګلان نثار نن
په ګریوان مې سر په‌خیال دچا دخط کړ
چه ځی بوی ځنی د مشکو دتا تار نن
که ئې ستر ګې عالم وژنی عجب نه ده
عجب دا چه قتلول کوی بیمار نن
د «حنان» صحت په دم په افسون نشی
پر زړه وخوړ د اشنای د زلفو مار نن

* * *

څو غافل ګرزی انسان بخپل ځان پورې حیران
خدای په خپله ستا شاهد دی حذر نه کړې له عصیان
ته الا لیعبدون ئی د خوړو د ابو زیان
سر د کل خطا دینار په خطا پسی روان
همیشه د رزق د پاره مرور ئې له آسمان
هوښ کړه ته یوا ځی نه ئې ستا په رنګ دې صد چندان
دا دنیا دغه ئې کار دی آسمان ژرنده سر ګردان
پاته شوی هیڅوک نه دی نه هندو نه مسلمان

کل شیء هالك دی الا وجهه نادان
ولو کان فی بروج دا خبر دی له فرقان
ته په څه سره غره ئې چه سر کا ږې له فرمان
مکړه خوب دبې غمۍ ته پا ته نشی له کاروان
په پیری عبادت نشی ګټه اوس و کوه ځوان
ژر به ورشی تر مطلبه ما سوی باسه له میان
فهم وکړه لږ منزل دی سټا تر کور تر ګورستان
عزرائیل دی برات کړی پر واړه زیروح یکسان
چه پیدا بنی آدم دی زړه ئې ډك دی له ارمان
د هیچا لاس په تور نشو واړه ولاړ ځنی پریشان
که ما قبل ؤ که بعد تر ګدا یه تر سلطان
د وفاع متاع ئی نشته واخله لاس له دی دکان
دنیا سجن د مؤمن دی وځه ته له دې زندان
للانسان عدو دی ته دوستی کړی له شیطان
فهم وکړه په دنیا کښی چاسود کړی دی بې زیان
چه سکندر دارا جمشید وو واړه ولاړ په زړه پریشان

نصیحت و ځان ته وکړه
بل ته څه وائی «حنان»

☆ ☆ ☆

که آمین ؤ که په دا روح الامین
د رقیب ځای شه اسفل السافلین

ستر گو ر ا کړه نن برات یرغزا لا نو
خیال دزلفوئي کړم تیر ترچین ماچین
د کشتن شوق دهغه شهسوارپه تیغ کړم
چه جلوه ئی دقیامت دلمر که زین
پهخرام رفتارئی زهترموی باریك کړم
چه ملا و تړی دناز بر کمر چین
که ملك مي سنگین زړه ترموم کړ نرم
دی مي هم د زړه په د و د سره کړ شین
چهخا موش نا ست ئي زماد زړه و ښکار ته
یتی ستر گی مشق د و ښو کړ ی شا هین
دحمید د خوش نظمی به زراعت کښی
د ا « حنا ن » ئی د ی د شعر خو شه چین

☆ ☆ ☆

چه می و لید ه د یا ر چین د جبین
په هر چین کښی د جبین ئي هزا ر چین
په هرچین کښی د جبین ئي چین معلو م دی
له غیر ته ئي د چین بر جبین چین
د جبین په چین ئی زړ و نه و ا ړ ه چین کړه
و ا ئي خیست په د غه چین له چینه چین
د غه چین د جبین نه د ی د زړ و چین د ی
په د ا چین کو ی د چین د مشکو چین

چه چین خلاص کړی د جبین د زړو چین ورشی
چه چین کاندی جبین زړو نه که چین
د غضب چین چه ما هروی پر جبین راوړی،
نمر په چین داورا دپټ که خپل چین
د جبین په چین ئې چین دخلقو واخست
زه «حنا»ن ئی کړم په چین دجبین چین

* * *

عاقبت مې په ژړا شو تور چشمان سپین
دا اوره شوه نن له جوشه د باران سپین
په امید د ملیمانه مې زړه کباب کړ
انتظار مې کړ لېمه تر نمکدان سپین
هېڅ خبر می بیا دورك یوسف رانغی
که یعقوب رنګه مې شوو اړه مژګان سپین
پاسبانی د مخ ئې چا زلفو ته ور کړه
د هندو په لاس مې ولیده قرآن سپین
مرتبه به داوو شهید و مومی
که چاځان مړ کړ دیار پر زنخدان سپین
د اګوهر دی په حقه کښی د عقیقو
که دیار په خوله کښی زیب کوی دندانسپین
رقیبان چه پر خوله ورشی هغه وائی
څوبه کا «حنا»ن له دې تهمته ځان سپین

نه طی کېږی لارد عشق په دویدن
لا زیا تېږی لکه تاك په بریدن
تکلم چه ئی له لعلو جلوه گرشی
مخ تې ځی زما له غوږه شنیدن
زړه تړل په دنیا کړد پخونه دی
جدا کړی مېوه له ښاخه رسیدن
دیار دید په اندازه درلره بویه
دغه گل پژمرده گېږی په لیدن
دار اوړی سبا پیغام دکومې مهروئې
لېمه کاندی لکه ستوری پریدن
دزړه وړ و دپاره کوم دلبر رادزومی
چه مې زړه که په سینه کښی طپیدن
رم ذاتی خوی دشوخ چشمودی «حنانه»
څه ښه وی و دا آهو ته رمیدن

* * *

په دا عصر کښی پیدا شوه کاتبان
چه فرق نه کا د بتان او دبیان
مرید و کاږی مرتد پرې خبر نه وی
نه صنم له ضم و ېش کړای شی عیان
خاص محرم کاږی مجرم له خپله فکره
جم او خم کاږی قلم سره یك سان

تو به وکا ږی ثو به ثو به تو به کا
پر عم خال د عم ایږ دی هسی کوران
قبل قتل په رقم کښی نوشته کا
خشم چشم ستم سیم کا ږی آسان
د سنبل د سبیل هیڅ امتیاز نه کا
هم د بت د تب په میان کښی وی حیران
صداقت مې صد آفت نکړی قادره
په نصیب زما «حنان» کړی ستا جنان

و

یو دی کړم مجنون دستر گو په جادو
په زنځیر دې بیا بندی کړم د گیسو
بانو گان دې حاجت زما دمرگی غواړی
چه سجده که و محراب ته دا برو
د زړه زخم مې نا سور دی نه رغیږی
دی تیر شوی له تدبیره در فو
دهغه شوخ چشم دید په کوم فرصت کړم
چه تعلیم ئې دی له رمه د آهو
چه نهان داستا قامت شی سرو قده
د قمری په دو دمې زړه وا یی کو کو
داتور خال ئی په سپین مخ کی معلو میږی
که ونمر ته کښینا ستلی دی هندو

دادخپل وصال شربت په «حنان» نوش کړه
د هجران په اورئي سوی دی پهلو

* * *

بیا په غم هسی اخته کړم هجران ورو ورو
لکه بخت چه پمن وی په ځان ورو ورو

نم د ستر گو ګو نه زېره وچ هډونه
ستاله مینی را پیښېږی نقصان ورو ورو

حال د خپل پامال و پوښته چه دی
لکه تیر پر مېږ تون شی سلطان ورو ورو

یوه شپه می په خواب ولیدې ستا زلفی
لاتر اوس مې صورت کیږی پریشان ورو ورو

زړه مې ورك وګرزېدم تا خندا وکړه
ستا پرخوله باندې مې کیږی ګمان ورو ورو

بیا مجلس کړی له رقیبه در پوهېږم
چه شړې له دره بیا عاشقان ورو ورو

یا نصیب چه به له دی غمه آزاد شم
«حنان» بند شو ستاد غم په زندان ورو ورو

* * *

دائي واخیست له عذاره نقاب ورو ورو
که دنمر دمخه تښتي سحاب ورو ورو

اومه زړو نه کامل زړه په نڅا بو زی
په انګار سره پخیږ ی کباب ور و ور و
زړه بې عشقه په کار کله دی ناصحه
بی صاحبه سرای آخرشی خراب ورو ور و
نا زك خیال آخر رسیږی و معنی نه
هلال و ګوره څه شان شی مهتاب ورو ور و
په و عده دسا ده لو حو غلط مشه
تږی وبولی وخا ن نه سراب ورو ور و
دمشرق مغرب لارطی په یوه ورځ کړی
چه ګام اخلی څوك په شان دآفتاب ورو ور و
په تعجیل نه مونده کیږی مراد «حنا نه»
طا لب لولی په ډیر عمر کتاب ورو ور و

* * *

مخ ئی لا صفا د میو په ا ثر شو
دا ګلاب لدی شبنمه تا زه تر شو
زما پر قتل ئی لا س هسی مضطرب وی
لکه پر د توتی توی د تیغ جو هر شو
خیال ئې ووت له سینې زړه ورسره ووت
کو ر نوړ له د ې مهما نه همسفر شو
مرم په داچه ورو ببا ر نه مې حال وو ې
نا محر م په دا اسرا ر و لې خبر شو

چه تعریف د شکر لبو تل بې کا زم
له خامې څخه مې توی شهد و شکر شو
په را تله د طبیب د مه د بیمار شی
ستا په د ید می لا دز ړه ز خم بتر شو
نصیبه از لی د ه و ر ر سیبز ی
چه «حنان» او دیار غم مخ واستر شو
محبت چه مې د یا ر په زړه پتر ی شو
دا په دا چه مې رقیب باند ی بر ی شو
چه مې عشق دشوخ چشمانو کړ په زړه کښې
د با دام په دو دمې تن سوری سوری شو
تند تو سن مې له تېز ی سیی نکړ
نپوهېږم برق و با د ؤ که پېر ی شو
چه ئې لا فې ستا له خو لې سره و هلې
دغونچې له خجا لته زړه نر ی شو
ما به څو له یا ر ه و اړ و ي نا صحه
تر قیا مته ز ما سر د یا ر نغر ی شو
بې نیاز ی دیار په هسې شان ضعیف کړم
چه مې سپی با له هغه را ته ز مری شو
د «حنا» یار په ښایست تر نور و به د ی
چه دو قت پر شاعرا نوئې تېر ی شو

کابل ۵۸.

دخو بانوخط و خال دی کان د مشکو
څه که کاندی هرسړی ارمان د مشکو

چه د زلفو بوی دې باد یو وړ د لبره
له ختن ئې کړ بېرون کاروان د مشکو

دا ئې زلفې پر مخ نه دی غوړ ولی
اور ېدلی دی پر گل باران د مشکو

وائې زلفی پر رخسار باندې څړ ېږی
که دحسن پر دکان میزان د مشکو

چه لید لې مې جفا ده د نو خطو
زړه مې نکوی الفت چندان د مشکو

د «حنان» سینه نوخطو تور سکاره کړ
که سینه وه دحمید د کان د مشکو

* * *

هسې ډوب یم همیشه په خیال د تر کو
چه خبر نه یم هر گز په حال د تر کو

صحیفه مې : زړه و گوری ء عالمه
پکښې نقش دی کلی احوال د تر کو

چه د بت قرعه مې شوه او له خلاص
بل څه نه راغله چه راغی فال د تر کو

عنیمت کړه خپل سر څه غواړی زاهده
په پرهار دوړ وی مالگې فال د تر کو

لکه موم و لمر ته و یلی شی له تاب
هسی زړونه او بوی جمال د تر کو

زاغ پر پاڼې د گل ناست دی نیو هېږم
که پر سپین مخ باندې برت دی خال د تر کو

په ویشتو د خپلو ستر گو ښه پوهېږم
ما «حنان» ولیده د کمال د تر کو

* * *

بیا دې جوړ پر سپین رخسار د زلفو دام شو
چه د زړه مرغه مې مسی نا آرام شو

زهر د ستر گو ئې په ما کښی اثر و کړ
چه پر تن مې پوست زراغون لکه بادام شو

اضطراب دیار د خط د ازلی دی
چه دا هسې می د زړه آرام حرام شو

چه مې نه پېژاند پخوا د وصل قدر
ښه چه هجر می نصیب علی الدوام شو

ډک د تر گو په تعریف نه دی نور څه دی
چه دیوان زما مرغوب د خاص و عام شو

لېونتوب چه په کوڅه د عشق داخل کړ
له «حنانه» څخه پاته ننگ و نام شو

* * *

سحر گرو ستر گو ستا په ډېر جادو
رم کاته دی دیده زده کړه په آهو

په‌محراب کښې د کعبې ئې قبر بوئی
چه وژلی وی په تیغ ستا د ابرو
دا د کوم گلرخ له غمه په گلشن کښې
دی گلان په‌وینو سره لکه سالو
بېهوده ضایع کوې دوا طبیبه
یم ناجوړ د عشق نه مې شی دارو
د یار زلفې له رقیبه نه خلاصېږی
وئې مشك آسا نه نه ښندی هندو
له غیرته مې پر سر د بر ې اوری
هر ساعت چه رقیب وینم پر پهلو
که‌ئې ځای پر آستانه غواړې «حنانه»
په ناڼوئې کړه د درخاوری جارو

* * *

طمع پرې کړه د جهان د ښو ثمرو
که‌ځای غواړې په‌درگاه کې د دلبرو
ستا د مخ خریداری نه که نو څه که
چه گلاب کړه لمن د که له سر وزرو
که‌په خط دې مخ صفا شو عجب نه دی
صفا ئې مومی ښیښه له خاکسترو
چه تشبیه ئې ستا له قده کړه د لبره
صنوبر سرو په دا شوه بې ثمرو

قاضی هدایت

نه په زړه کښې سوزشته دی ، نه شور له مغز و سره
نه د مینې ډك زړګی ، نه ژوند له ارزو سره
مینه ځوانیمرګه شوه ، حسن نامراد پاتې
لیږدی امیدونه ټول د رومی له اسرو سره
حسن رسوائی ګڼي ، مینې ته هوس وائی
نه کړی اشنائی ځکه ښکلی له ځلمو سره
نازد تکو سرو ستر ګو ، مینه لیونۍ غواړی
نه کړی هوښباران ځکه مینه له ژوند و سره
دی په خپله علا کوی ، خدایږ وچه بلا کوی
دغه قاضی ګوری ء لاتعذیر ئی د در و سره

﴿ تشکر ﴾

* کابل مجله د دولتی مطبعې له فنی او تخنیکی چارو متخصص ښاغلی محسنی نه چه د دی مجلی ﴾
﴿ په رنګه کاری کښې ئی د قدر وړ مساعی په غاړه اخستی دی ډیر تشکر کوی . ﴾

د پښتو ټولنې تازه خپرونې

۱ : لوړ خیالو نه اوژور فکرونه ـ د کل پاچا الفت اثر یو جلد په (۸) افغانۍ

۲ : داورلمبې د ښاغلی خیبری اثر یوجلد په (۵) افغانۍ

۳ : پښتانه داقبال په نظر کښې د ښاغلی بختانی تدوین یوجلد په (۷) افغانۍ

٤ : منطق د ښاغلی الفت اثر یوجلد په (٦) افغانۍ

٥ : افغان قاموس د ښاغلی عبدالله افغانی نویس اثر یوجلد په (۳۲) افغانۍ

٦ : پښتو نثرونه د محمددین ژواك تدوین ...

۷: پریشانه افکار: د ښاغلی بینوا یو جلد په (۸) افغانی

۸: نړۍ په دوه زرم کال کښې د ښاغلی واسعی ترجمه

۹ : افغان قاموس درهم توك ....

دا کتابونه د پښتو ټولنې په پلورنځی کښې موجود دی .

کابل مجله

دا مجله د پښتو په خواره ادب ادبی ننده ماتوی .

دا مجله د پښتنې دنیا د معرفۍ یوازینۍ وسیله ده.

دا مجله د نیرو او او سنیو پښتنو پرژوند ښه رنا اچوی.

تاسې کولای شیء چه د اتنده په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ په د نمه هیواد کښې په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په (۱۲) کلدار ی په نورو دباند نیو هیوا د و نو کښې په (۳) دالره مانه کړیء

د ښوونځیو وزده کونکو ته په نیمه بیه .

د نوی کال د اشتراك د پاره په کابل کښې همدغه بیه د پښتو ټولنې د محاسبې مدیریت ته او په ولایاتو کښې د همدی مؤسسی د جاری شمېر (په ۷۸۷۵) لمبر افغانستان بانك ته سپارل کېږی

دولتی مطبعه